د افغانستان اسلامي امارت
د عامې روغتیا وزارت
د مقام د دفتر لوی ریاست
د ویاندویی، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# روغتیا او ژوند



۵
گڼه

دویم پړاو، ذوالحجة الحرام ۱۴۴۷ هـ ق

۱۴۰۵/۰۳/۱۶ هـ ش



# صحت و زندگی




شماره ۵

دور دوم، ذوالحجة الحرام ۱۴۴۷ هـ ق

۱۴۰۵/۰۳/۱۶ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم


## امتیاز څښتن :

د عامې روغتيا وزارت

**خپروندویه اداره:**

د ویاندویی، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدير:**

گلزاده سنگر

**گرافیک ډیزاین:**

رفيع الله مومند ، منصور شريفي

**کتنپلاوی:**

شيخ محمد طاهر حليم
ډاکتر شرافت زمان امرخېل
مفتي لطف الله مبارك
رحمت الله مؤمن
ډاکتر مسعود رحيمي
وسيع الله احمديار
عمران رسولي
ډاکتر شريف احمد احمدزی

**اډیټران:**

اكرام الله كريمي ، نصير احمد حيدري

**د اړیکې شمیره:**

020-2301374

**بریښنا لیک:**

info.access@moph.gov.af

**ویبپاڼه:**

www.moph.gov.af

**پته:**

د عامې روغتيا وزارت څلور لارې، وزير
محمد اكبر خان سړک کابل - افغانستان


## لړلیک:


سرليکنه ........ ۱
د ننگرهار عامې روغتيا رياست پېژندنه ........ ۳
روغتیایي پیغامونه ........ ٦
د زيږون پرمهال د اوږې او بازو د عصابو فلج ........ ۷
نیاز و نقش سکتور خصوصی صحی در نظام صحی افغانستان .... ۱۰
د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ بهرني سفرونه ........ ۱۲
د تغذيې رول د نري رنځ (TB) په مديريت کې ........ ۱۷
نبوي ملغلرې ........ ۱۸
اسکاریازس (Ascariasis) ........ ۲۰
د تازه مېوو روغتیایي گټې ........ ۲۲
د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ مهمې ناستې ........ ۲۴
امراض دايورتيکولر کولون ........ ۲٦
د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ داخلي سفرونه ........ ۲۸
شکر ناروغي (Diabetes Mellitus) ........ ۳۳
خبرونه او راپورونه ........ ۳۴

## سرليکنه

## د روغتيايي خدماتو د بدلون پړاو!

روغتيا د هرې ټولنې د ثبات، پرمختګ او انساني کرامت اساسي ستن ده. د اسلامي امارت د واکمنېدو راپدېخوا د عامې روغتيا وزارت رهبرۍ هڅه کړې، چې له شته امکاناتو څخه په اغېزمنه ګټه‌اخيستنه، د خلکو د روغتيايي اړتياوو د پوره کولو لپاره بنسټيز ګامونه واخلي.

په دا ورستيو کې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د روغتونونو او روغتيايي مرکزونو شمېر زيات شوی، تر څو روغتيايي خدمتونه تر لرې پرتو سيمو پورې ورسول شي او د هېواد ټول وګړي روغتيايي خدمتونو ته لاس رسی پيدا کړي.

د نويو روغتونونو پرانيستل او د مخکينيو مرکزونو پراختيا، د دې څرګندونه کوي چې روغتيايي خدمات ټولو خلکو ته د لاس رسي وړ ګرځېدلي.

د دې ترڅنګ د طبي تجهيزاتو پېر او نوي کول، د تشخيص او درملنې بهير اسانه او اغېزمن کړی او هم يې روغتيايي کارکوونکو ته د لا ښه خدمت زمينه برابره کړې ده.

له بلې خوا، په پخوانيو روغتيايي پاليسو کې بدلونونه راوستل شوي، څو د وخت له اړتياوو سره سمون ولري. د روغتيايي چارو تنظيم، شفافيت، او حساب ورکونه هغه برخې دي، چې ورته ځانګړې پاملرنه شوې.

دا بدلونونه د يوه داسې سيستم د جوړېدو زيری ورکوي، چې بنسټ يې پر اصولو او معياري چوکاټ ولاړ وي.

مسلکيتوب ته ځانګړې پاملرنه، د روغتيايي سکتور د پياوړتيا يو مهم ګام بلل کېږي. د روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو، روزنيزو پروګرامونو او مسلکي معيارونو ته د ژمنتيا له لارې هڅه شوې، چې د خدماتو کيفيت لوړ شي.

له شک پرته، لا هم ستونزې او ننګونې شته؛ خو ترسره شوي ګامونه دا هيله پياوړې کوي، چې روغتيايي سکتور د پرمختګ پر لور روان دی.

د روغتيا پياوړتيا د ملت پياوړتيا ده، او دا هغه مسؤليت دی چې دوامداره پاملرنه، ګډ کار او ملي هوډ ته اړتيا لري.





## عامې روغتیا وزارت

عامې روغتیا وزارت د خپل رهبري رول پر اساس د نورو اړوندو امارتي، ملي او نړیوالو شریکانو په همغږۍ په هېواد کې د روغتیا او تغذیې د پالیسیو- ستراتیژیو ودې، د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو او څارنې مسئولیت په غاړه لري. د پورته موخو د پلي کېدو په موخه عامې روغتیا وزارت مرکزي او ولایتي دفترونو له لارې مؤثرو او مثمرو روغتیايي خدمتونو ته د لاسرسي په موخه نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کوي.

## ماموریت:

د عامې روغتیا وزارت د روغتیا ښه کولو، د ناروغیو او مړینو کمولو، روغتیايي خدمتونو ته د لاسرسي زیاتولو او د ټولو افغانانو د هوساینې په موخه روغتیايي ژوند طرز ته د ودې ورکولو مسئولیت لري او د ملي روغتیايي لومړیتوبونو په رڼا کې د پایښت لرونکو پراختیايي موخو ترلاسه کولو او د کورنیو لخوا د لوړو روغتیايي لګښتونو د کمولو لپاره ګامونه اخلي. یادې موخې د سیاسي ارادې، پیاوړې رهبرۍ او ښې حکومتولۍ تر چتر لاندې د روغتیايي سکتور د ښکېلو لورو سره د همکارۍ او د سرچینو ګټور مدیریت له لارې تحقق مومي.

## لرلید:

د هېواد ټول اوسېدونکي به په هېواد کې دننه په ملي او نړیوالو روغتیايي معیارونو برابر، د لاسرسي وړ او له روغتیايي چوپړتیاوو او توکو څخه برخمن وي او په روغتیا سمباله ټولنه به ولري.

## موخې:

د هېواد ټولو وګړو ته په مناسبه او ارزانه توګه د کیفیت لرونکو روغتیايي خدمتونو برابرول، خوړو، درملو، روغتیايي محصولاتو رسونه، روغتیايي حقونه تأمینول، د فقر کمول، د ورکړې وړ، عادلانه او مساوي لاسرسي چمتو کول او د پایښت لرونکي روغتیايي سیستم پیاوړتیا ترلاسه کول چې په هېواد کې د روغتیا او تغذې وضعیت ښه والي لامل وګرځي

## بنسټیز ارزښتونه:

عدالت، رښتینولي، طبي اخلاق، وقار او درناوی، مؤثریت او مثمریت، کیفیت، ناروغ محوره خدمتونه، ځواب ویونکي خدمتونه، پایښت، حساب ورکونه، روڼتیا، همغږي او همکاري، د شواهدو پر بنسټ پرېکړه، د ورکړې وړ بیه، نوښتونه، ټولګډونوالی او بې توپیرتیا، ژمنتیا او مسلکیتوب، د منلو او پلي کېدو وړ، د پایلو پر بنسټ سیستم.




## د ننگرهار عامې روغتيا رياست پېژندنه

د ننگرهار عامې روغتيا رياست د بنسټ ډبره په کال ۱۳۱۶ هـ ش د ظاهر شاه د واکمنۍ پرمهال کېښودل شوه او د ننگرهار په اوسني سيمه ييز روغتون کې يې موقعيت درلود، چې هغه وخت يې ځو محدودې ځانگې درلودې.

اوسنۍ ودانۍ يې په کال ۱۳۹۸ هـ ش کې په ۳۹.۸ ميليونه افغانيو په ښه معيار جوړه شوې ده چې اوسمهال په رسمي تشکيل کې ۱۲ امريتونه او (نهه پنځوس) عمومي مديريتونه لري.

د ننگرهار عامې روغتيا رياست د شاوخوا (۲۵۰) روغتونونو او روغتيايي مرکزونو له لارې د دې ولايت ۴ ميليونه او د ختيځ زون په شمول ۷ ميليونه هېوادوالو ته روغتيايي خدمات وړاندې کوي.

د ننگرهار عامې روغتيا رياست تر چتر لاندې روغتيايي مرکزونه:

يو ولايتي روغتون

يو سيمه ييز روغتون

شپږ د ولسوالۍ کچې روغتونونه

درې ځانگړي روغتونونه: (انتاني، نشتر د پښتورگو، د ختيځ زون د رواني ناروغانو درملنې روغتون)

دوه د روږدو ناروغانو درملنې

يو تدريسي روغتون

۱۹ بشپړ روغتيايي مرکزونه (CHC)

څلور بشپړ پرمختللي روغتيايي مرکزونه

۱۰ بنسټيز روغتيايي مرکزو BHC

۴۶ فرعي مرکزونه SHC

۱۰ کورنۍ روغتيايي ځالې

۲۵ گرځنده مرکزونه

۸ د مور او ماشوم ځانگړي مرکزونه

۱۶ نور مرکزونه چې عبارت دي له ملاريا، توبرکلوز، ايډز معلولينو او داسې...

دې ولايت کې د لويو او مهمو روغتونونو شتون خلکو ته د خدماتو لاسرسۍ اسانه کړې او سربېره پر دې يې د ډېرۍ ناروغانو ستونزې حل کړي دي په کور دننه او بهر ته له تگ اړ کېدو مخنيوی يې کړی.

-> د ننگرهار سيمه ييز تخصصي روغتون

-> د بي بي فاطمة الزهرا ولايتي روغتون

-> نشتر د پښتورگو درملنې ملي روغتون

-> د انتاني ناروغيو درملنې ۵۰ بستريز روغتون

-> د سرطاني ناروغيو درملنې ۵۰ بستريز روغتون

دوام:

<- د شکر ناروغانو درملنې ځانګړی مرکز
<- پر نشه یي توکو د روږدو درملنې ۱۷۰ بستریز روغتون
<- د روږدو ماشومانو او تنکیو ځوانانو درملنې ۲۰ بستریز روغتون.
<- د ننګرهار پوهنتون تدریسي تخصصي روغتون

د ننګرهار په ۲۲ ولسوالیو کې ٦ یې ولسوالی کچې روغتونونه لري او په پاتې نورو ولسوالیو کې به د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان مطابق عمومي روغتونونه جوړ شي چې ورسره به یادو ولسوالیو کې روغتیایي خدماتو ته لاسرسي زیات شي.

پە ننګرهار کې د ولسوالیو کچې روغتونونه عبارت دي له کامې ولسوالی ۵۰ بستریز روغتون:

<- د شینوارو ولسوالی ۷۵ بستریز روغتون
<- د خوګیاڼو ولسوالی ۷۵ بستریز روغتون
<- د حصارک ولسوالی ۵۰ بستریز روغتون
<- د روداتو پیوې کنډو ۵۰ بستریز روغتون
<- د پچیراګام ولسوالی ۳۰ بستریز روغتون
<- ننګرهار کې د خوړو او درملو د کیفیت معاینې لابراتوار هم شتون لري چې په ورځني ډول پکې د ۴۰ قلمه خوراکي توکو نمونې معاینه کیږي.
<- دغه راز د ۲۰ قلمه درملو نمونې د معاینې په موخه مرکز کابل ته لیږل کیږي د یاد لابراتوار لپاره د ځانګړې ودانۍ د جوړیدو چارې هم روانې دي چې ۷۰ سلنه یې بشپړې شوې دي.

د اسلامي امارات د بیا واکمنیدو وروسته مهمې لاسته راوړنې او فعالیتونه:

<- د سرطاني ناروغیو ۵۰ بستریز روغتون جوړول
<- د ختیځ ٦۰۰ بستریز روغتیایي کمپلکس د چارو بیا پیل
<- د ختیځ زون په کچه د خوړو او درملو د کیفیت معاینې لابراتوار ودانۍ چارې نیمګړو چارو بیا پیل.
<- د سیمه ییز روغتون د عمومي جدي پاملرنې ځانګې G-ICU بسترونه له ۱۰ څخه ۲۰ لوړیدل .
<- د ۲۱ میلیونه افغانیو په لګښت د ختیځ زون د ریفرینس لابراتوار ودانۍ جوړول.

<- د ولایت د بیلابیلو ولسوالیو په لرو پرتو سیمو کې د ۱۰ روغتیایي ځالو لپاره د معیاري ودانیو جوړول
<- د شاوخوا ۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت روغتونونو ته نوي طبي وسایل ورکړل شوي لکه (الټراساونډ ماشینونه، فوټوتراپي، بیبي وارمرې، ای سي جي او نور)
<- په روغتیایي علومو انسټیټیوټ کې د ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د رغونې چارې ترسره شوي دي.
<- د روغتونونو په ځانګړې ډول د سیمه ییز روغتون په تشکیل کې زیاتوالی راغلی دی.
<- په خصوصي سکتور کې د روغتیایي قوانینو تطبیق او څارنه زیاته شوې ده.
<- هیواد ته د بې کیفیته درملو او خوراکي توکو مخنیوي برخه کې د پام وړ ښه والی راغلی دی.
<- تر دا مهاله د روغتیایي علومو انسټیټیوټ څخه 11 زره محصلین فارغ شوي دي.
<- په نشتر د پښتورګو روغتون کې د ډیالیز ۱۴ نوي ماشینونه نصب شوي.
<- په نشتر روغتون کې د یو ملي پانګوال په مرسته د ۱۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت ترمیمات ترسره شوي دي.
<- د شکر درملنې مرکز د ایران هیواد په مرسته جوړ شوی دی.
<- د سرخرود په سیمه کې د یو خیریه بنسټ په مالي مرسته یو روغتیایي مرکز جوړ شو.






## روغتیايي پېغامونه

۱. د انټي بیوټیک درملو استعمال باید د تجویز شوې دورې تر پایه دوام ومومي، که څه هم د ناروغۍ علایم مخکې له وخت څخه لرې شي. د دوا ژر قطع کول کېدای شي د ناروغۍ بیا راګرځېدو او د انټي بیوټیک درملو په وړاندې د مقاومت د رامنځته کېدو سبب شي.

۲. لږ تر لږه ماشومانو ته تر دوه کلنۍ پورې د مور شیدې ورکړئ؛ ترڅو مو ماشومان د نس ناستي، سینه بغل او خوارځواکۍ له خطرونو څخه خوندي پاتې شي.

۳. رواني ناروغي ساري نه ده؛ نو په دغو ناروغیو اخته ناروغانو څخه لرېوالي او ځان ساتلو ته اړتیا نشته، له هغوی سره ښې اړیکې وساتئ، ځکه دا کار د هغوی د رواني حالت په ښه کېدو کې مرسته کوي.

۴. د تور زیړي یا هیپاټایټ ویروس د ناروغو کسانو د وینې له لارې روغ کس ته انتقالیږي؛ له دې امله نورو ته د وینې ورکولو وړاندې خپله وینه د هیپاټایټ د تشخیص لپاره معاینه کړئ.

۵. د مور شیدې د ژوند په لومړیو شپږو میاشتو کې د ماشوم د تغذیې ټولې اړتیاوې پوره کوي؛ هڅه وکړئ چې په دې وخت کې ماشوم ته هېڅ ډول خواړه ورنه کړئ.

٦. که چیرې تاسو کنه وچیچي او د کانګو ناروغۍ نښې نښانې لکه تبه، زکام، زړه بدوالی، کانګې او د پوستکي لاندې وینه بهېدل راڅرګند شي، نو ډاکټر ته مراجعه وکړئ؛ تر څو مو ناروغي ژر تشخیص او درملنه مو وشي.

۷. په کانګو ناروغۍ اخته کسان باید تر جدي څارنې لاندې ونیول شي؛ ترڅو نورو ته د دې ناروغۍ له خپرېدو مخنیوی وشي.

۸. د ټوخي یا پرنجي پرمهال مو خوله او پزه په دستمال یا څنګل پټه کړئ؛ تر څو د تنفسي ناروغیو خپرېدو مخنیوی وشي.

۹. د رواني ناروغانو د ښه کېدو لپاره، هغوی ته ډاډ ورکړئ چې رواني ستونزې خطرناکې او د اندېښنې وړ نه دي؛ هغوی کولای شي خپله او د نورو په همکارۍ دا ستونزې حل کړي.

دوام:

۱۰. د امیندوارۍ په دروان کې د روغتیایي کارکوونکي او فارمسست له مشورې پرته درمل مه کاروئ.

۱۱. د حاجت رفعه کولو وروسته مو لاسونه په اوبو او صابون ومینځئ؛ تر څو ستاسې او د کورنۍ روغتیا مو خوندي وي.

۱۲. هېڅکله د یوه ناروغ درمل بل ناروغ ته مه ورکوئ؛ ښايي د هغوی ناروغي یو له بل سره توپیر ولري او د جدي روغتیايي ستونزو لامل شي.

۱۳. د امیندوارۍ په دوران کې د زړه بدوالي کمولو لپاره لیمو او لږ شات، چې اوبو کې حل شوي وي څښل یې ګټور دی.

۱۴. هر مراجعه کوونکی باید خپل روغتیايي اسناد خوندي وساتي او روغتیايي مرکز ته د بیا تللو پر وخت یې له ځان سره یوسي؛ تر څو په سمه توګه یې تشخیص او درملنه وشي.

۱۵. که له دوه اوونیو څخه زیات بلغم لرونکی ټوخی ولرئ هرو مرو د بلغم معاینې لپاره روغتیايي مرکز ته مراجعه وکړئ، ښايي نرۍ رنځ ولرئ.

۱٦. که تاسې کمپیوټر ډېر کاروئ او یا کتاب ډېر لولئ او له امله یې د سترګو له سترېا او سردرد سره مخ کېږئ، کېدای شي د سترګو د انکسار ستونزه ولرئ؛ نو د پر وخت تشخیص او درملنې لپاره د سترګو ډاکټر ته مراجعه وکړئ.

۱۷. تل له خپلو ماشومانو نه څارنه وکړئ، څو د ناپوهۍ له امله ځان او نورو ماشومانو ته زیان و نه رسوي؛ ځکه چې دا کار په راتلونکي کې د هغوی د معلولیت سبب ونه ګرځي.

۱۸. د غیر ساري ناروغیو لکه شکر ناروغی، د زړه ناروغیو او د وینې لوړ فشار خطرونه پر ټاکلي وخت د تشخیص او درملنې له لارې راکم کړئ.

۱۹. د سوځېدنې په صورت کې دې ناروغ ته ګرم مایعات ورکړل شي؛ تر څو ضایع شوي مایعات بېرته جبران شي.

۲۰. ماشومان مو باید په ځیرکو موبایلونو باندې کمې خبرې وکړي او په موبایل کې له ګېمونو کولو څخه ډډه وکړي، تر څو د برېښنايي مقناطیسي څپو له ناوړه اغېزو څخه خوندي پاتې شي.



# د زیږون پرمهال د اوږې او بازو د عصابو فلج

## Erb's Palsy (Brachial Plexus Birth Palsy)

ټرینر متخصص رنځورمل ډاکټر محمد یعقوب شینواری

Erb's palsy د (Brachial Plexus Palsy) یو ډول دی، دغه ناروغي د لومړي ځل لپاره د ډاکټر (Wilhelm erb) لخوا توضیح شوه، له همدې کبله د نوموړي ډاکټر په نوم ونومول شوه.

(Brachial plexus)غاړې ته نږدې د اعصابو یوه شبکه ده چې د مټ ټول اعصاب ورڅخه منشاء اخلي. یاد عصاب د اوږې، مټ، مروند، لاس او ګوتو حسیت او حرکت تامینوي.

فلج(palsy) د ضعیفي په معنی ده چې په یاده ناروغي یعنې (Brachial Plexus Birth Palsy) کې هم مټ ضعیفه او بې حرکته وي.

په هرو زرو زیږونونو کې یو یا دوه کوچنیان په دغه حالت اخته وي، دا حالت اکثره هغه وخت رامنځته کیږي چې د سخت ولادت پرمهال د ماشوم غاړه د اوږې خوا ته کش شي.

په (Brachial Plexus Birth Palsy) اخته اکثره کوچنیانو کې د ورځني فزیکي مشق په برکت د اخته مټ حرکت او حسیت بېرته تامینیږي، په دې کړنه کې والدین ډیر رول لري، ترڅو د فعال ګډون پواسطه وکولای شي د خپل ناروغ یعنې کوچني د مصاب مټ دندې اعظمي حد ته ورسوي.

### اناټومي:

کله چې مټ، لاس او ګوتو ته له(Spinal cord) څخه عصبي ریښې د غاړې د فقراتو له منځ څخه راووځي په دغه ساحه کې(Brachial Plexus) موقعیت لري.

نوموړي عصاب د غاړې په امداد یو له بل سره یو ځای کیږي او بیا له دې ځایه د عصبي ریښو یوه شبکه یا (Plexus) جوړوي.

د عصبي ریښو یاد سیستم د غاړې د فقراتو شاته سیر پیدا کوي او د مټ په لوري خپریږي.

هغه عصبي ریښې چې اوږې (Shoulder) خواته ځي د غاړې په برخه کې له هغو عصبي ریښو څخه پورته قرارلري کومې چې د لاس او ګوتو په لوري سیر لري. همدارنګه د لاس او ګوتو حسي عصبي ریښې د غاړې په برخه کې سفلي او د مټ په ساحه کې عمیق موقعیت لري.

### توضیح:

د (Brachial Plexus Birth Palsy) په اکثره پېښو کې د یادې شبکې علوي عصبي ریښې اخته کیږي، چې دغه حالت ته (Erb's palsy)وایي.

له دې کبله په دې ناروغۍ اخته کوچنی نشي کولای خپلې اوږې ته حرکت ورکړي خو ددې ورتیا لرې چې خپلې ګوتې وښوروي. کله چې د یادې شبکې علوي او سفلي دواړه ریښې کش شي نو یاد حالت به معمولاً د (Erb's palsy) په نسبت زیات وخیم اوسي چې د(Global) یا (Total brachial plexus birth palsy) په نوم یادیږي.

په عمومي توګه د یادو اعصابو څلور ډوله ترضیضات شتون لري، چې په عین ماشوم کې څلور واړه په یو مهال هم رامنځته کیدای شي، خو د ترضیض په پام کې نه نیولو سره د ټولو ترضیضي ډولونو اعراض یو شان دی (د حسیت له منځه تلل او قسمي یا هم بشپړ فلج)، د درملنې لپاره تصمیم او د رغېدنې دوام د ترضیض په شدت پورې اړه لري.

### لامل:

Neurapraxia: دا د کشش په شکل یو ډول ترضیض دی چې د عصبي ریښو د لړزه (shock) لامل کیږي، خو عصبي ریښې نه شلوي، دا د یادې ناروغۍ تر ټولو عام ډول دی. یاد ترضیضات معمولاً د ۳ میاشتو په موده کې په خپله رغیږي. نیوراپرکسیا په کاهلانو کې هم رامنځته کیدای شي، د بېلګې په توګه که یاد حالت د فوټبال په لوبغاړو کې د لوبې پرمهال رامنځه شي د (burner یا stinger) په نوم یادیږي.

Rupture: دا هغه کشش کوونکی ترضیض دی چې د عصبي ریښو د شلېدو لامل ګرځي، عصبي ریښه بېرته په خپله رغېدی هم نشي، رپچر هغه مهال رامنځته کیږي چې عصبي ریښه شلېدلې اوسي.

Neuroma: کش کوونکي ترضیض چې د ځینو عصبي ریښو رامنځته کېدو (Scar tissue) د تخریب لامل شوی وي ممکن چې یاد انساج په پاتې روغ عصب باندې فشار رامنځته کوي، دغه حالت د (Neuroma) په نوم یادیږي.

دوام:

په ځينو پېښو کې معمولاً(Recovery) رامنځته کېږي.

Avulsion: کله چې عصبي ريښه له شوکي نخاعSpinal cord څخه راوشلېږي اوولړن بلل کېږي. عصبي (Rupture) او (avulsions) د عصبي ترضيضاتو ترټولو وخيم ډولونه ګڼل کيږي. دا هم ممکن ده چې د همدې کوچني له کوبل عصب څخه پيوند واخيستل شي او د (Splicing) په طريقه ريچړ ورغول شي خو د شوکي نخاع څخه را جلا شوې اوولړن بيا نشي رغيدلی. خو ځيني مهال داسې کېدای شي چې د متې ځينې دندې د کومې بلې(Donor)عضلې د عصب په کارولو سره اعاده شي.

اعراض:

په يو متې کې ضعيفي.

په مصاب متې کې د حسيت نشتوالی.

د متې قسمي يا بشپړ فلج.

**د ډاکتر معاينه:**

د (Brachial Plexus Injury) يا فلج معمولاً لومړی د کوچنيانو د ډاکتر لخوا تشخيصيږي، ځکه د فزيکي معاينې په ترڅ کې هغهويني چې د ماشوم اخته متې ضعيفه دی.

د غاړې او اوږې د هډوکو او مفاصلو د ترضيض مالومولو لپاره ناروغ ته اکسرې، التراسونډ او يا نورې انځوريزې (Imaging) معاينې توصيه کيږي. ياد عصبي ترضيض کولای شي د اوږې وده هم اغېزمنه کړي. د متې د پورتنی برخې په عضلاتو کې د عصبي سيګنالونو د موجوديت د پيژندنې لپاره د EMG (Electromyogram) او (Nerve Conduction Study) (NCS) ټستونه اجراء کيږي.

**درملنه:**

دا چې په (Brachial Plexus Birth Palsy) اخته نويو زيږيدلو ماشومانو کې اکثره يې پخپله رغيږي، نو ډاکتر بايد وخت په وخت ناروغ تکراري معاينه کړي، ترڅو د عصبي ريښو رغېدنه وارزوي. د عصبي ريښو وده او بيا رغېدنه ډېر کراره صورت نيسي، ياده ناروغي تر بشپړې روغتيا پورې آن ۲ کاله وخت ته اړتيا لري.

**غير جراحي درملنه Nonsurgical Treatment**

د Erb's palsy عمده درملنه په منظمه توګه هره ورځ فزيوتيراپي څخه عبارت ده. دا چې ماشوم په خپله دغه چاره نشي ترسره کولای نو والدين بايد په دې کړنه کې فعاله ونډه واخلي. معالج ډاکتر يا فزيوتيراپيست به والدينو ته ښوونه ورکوي چې دوی څنګه کولای شي د خپل کوچني د اخته متې حالت په ښه وضعيت کې وساتي.

کله چې ماشوم د ۳ اوونيو شو ورځنی فزيوتراپي او يو شمېر حرکاتي تمرينات بايد هره ورځ پيل او ځومره چې ډېر کېږي ترسره شي. په دغه تمريناتو کې بايد د اوږې، څنګل، مړوند او لاس حرکات شتون ولري، چې له مخې يې مفصل له دايمي شخوالي (stiffness) څخه وساتل شي، که داسې ونشي او مفصل شخ شي (joint contracture) منځته راځي.

**جراحي درملنه Surgical Treatment**

که چيرې د ۱-۳ مياشتو په موده کې په ناروغ کې تغيرات ونه ليدل شي، د عصبي ريښو د قوت د زياتوالي په موخه ممکن د جراحي مداخلې وړانديز وشي. په(Microsurgery) تخنيک کې جراحان د (High-Powered) مايکروسکوپ او کوچنيو اختصاصي سامان آلاتو څخه کار اخلي. د عصبي ريښو جراحي هم په وصفي او بشپړه توګه د عصبي ريښو دندې نشي اعاده کولای او معمولاً په ډير عمر لرونکو کوچنيانو کې ګټور نه وي.

د عصب پيوند يا Nerve graft: عصبي ترضيض ته په کتو سره د عصبي ريښو ريچړ ممکن ده چې د بل ډونور عصب د ګرافټ پواسطه د Splicing په طريقه ورغوو.

د عصب ليږد يا Nerve transfer: په ځينو پيښو کې د متې د يو شمير دندو د اعادې لپاره له بلې عضلې څخه عصب د متې عضلاتو ته انتقاليږي.

دا چې د عصبي ريښو رغيدنه ډيره کراره ده نو د غاړې په برخه کې د متې د ښکتنی برخې او لاس د عضلاتو عصبي رغيدنه څو مياشتې او حتی کلونه په بر کې نيسي. تر جراحي عمليات وروسته معالج ډاکتر يا هم فزيوتيراپيست د ماشوم والدينو ته د بيارغونې داسې تمرينات او حرکات په ګوته کړي چې هغوی يې هره ورځ په کور کې اجرا او د ماشوم د متې او لاس قوت يې لوړ شي.

په نـویـو زیږیـدولــو ماشـــومانو کـې د (Brachial plexus) ترضیضـات مـعـمـولاً د سـتـونـزمـن زیږون لکـه غټ مـاشـوم (Breech Presentation) او اوږد زیـږون پـرمـهــال رامنـځـتـه کیږي. همدارنګه کله چې زیږون اختلاطي شي او د قابلې لخوا ماشوم په ډیره چټکتیا سره له ولادي کانال راوکښل شي یا ماشوم د ولادي کانال څخه د فورسپس پواسطه راکش کړای شي دغه ترضیض رامنځته کیدای شي. که د ماشوم د غاړې یو طرف کش کړای شي له دې سره عصبي ریښـې هم تر کشـش لاندې راځي او ترضیض واقع کیږي.

دا چې د (Brachial Plexus Birth Palsy) اکثره نوي زیږیدلي کوچنیان په خپله رغیږي، نو ډاکتر باید یاد ناروغ ماشوم وخت په وخت د عصب د رغېدنې په منظور معاینه کړي. عصبي ریښې ورو ورو او رغېدنه لري، یاده ناروغي تر بشـپړې رغـېـدنې پورې ممـکـن دوه کـاله وخت په بر کــې ونیسي.

د (Brachial Plexus) په ترضیضاتـو اخته ګـڼ شمیر کـوچنیـان ممکن په اوږه، مټ یا لاس کې د ضعیفې احساس ولري، چې د یادو برخــو د دندو د ښه والي لپاره بیا وروسته نـور جراحي پروسیجرونه ترسره کیږي. چې ماشوم غټ شي د ناروغ د فـردي حالت په نظر کې نیولـو سره د ډاکتر لـخوا د ځانګړي درملنې یا جراحي مداخلې وړاندیز کیږي.

**له (Erb's Palsy) سره اوسیدنه:**

په ځینو کوچنیانو کې اخته مټ د روغ هغه په نسبت په څرګنده توګه کوچنی وي دا ځکه چې عصبي ریښې د اعضاؤ په وده باندې اغیزه لري. که څه هم د ماشوم له ودې سره اخته مټ هم یو څه وده کوي خو د ودې سرعت یې کم وي چې له امله یې د کهـولت تر مرحلې د اخته او روغ مټ په جسامت کې د پام وړ توپیر رامنځته کیږي.

کوچنیان د توافق ښه قابلیت لري، دوی باید حمایه او تشویق شي او په ټولو هغو کړنو یې تمرکز وشي، چې یاد ناروغ یې د کولو وړتیا لري. په دغه ډول هڅو سره ناروغ کوچنی د خودکفایې سالم احساس پیدا کوي چې دا یې د لاس د دندو د محدودیت په وړاندې ښه بدیل ګڼل کیږي.



## نیاز و نقش سکتور خصوصی صحی در نظام صحی افغانستان

الحاج داکتر خلیل الله امین
(متخصص تخنیکی ریاست تنظیم و هماهنگی سکتور خصوصی)

سکتور صحی یکی از حیاتی‌ترین بخش‌های یک کشور است که با سلامت مردم، رشد اقتصادی و رفاه اجتماعی ارتباط مستقیم دارد. در کنار خدمات عامه سکتور خصوصی صحی نقشی اساسی در ارائهٔ خدمات صحی، گسترش پوشش خدمات و بهبود کیفیت آن‌ها ایفا می‌کند.

با افزایش جمعیت، رشد شهرنشینی، گسترش بیماری‌ها و محدودیت بودجهٔ ملی، نیاز به حضور گسترده و فعال سکتور خصوصی صحی بیشتر از هر زمان دیگر احساس می‌شود. این مقاله به بررسی ضرورت‌ها، اهمیت‌ها و عوامل نیازمندی جامعه و دولت به سکتور خصوصی صحی می پردازد. افغانستان یکی از کشورهایی است که طی دهه های گذشته با جنگ، فقر، کمبود زیرساخت‌ها و مهاجرت های گسترده روبه‌رو بوده است. این شرایط سبب شده است تا نظام صحی کشور در بسیاری از بخش‌ها با چالش های جدی مواجه گردد. در چنین وضعیت، سکتور خصوصی صحی به‌عنوان یک نیروی مکمل و حمایت‌کننده، نقش مهمی در ارائهٔ خدمات، افزایش ظرفیت و بهبود کیفیت سیستم صحی ایفا کند. این مقاله نیاز و نقش سکتور خصوصی صحی را در شرایط خاص افغانستان بررسی می نماید.

### اول : افزایش تقاضا برای خدمات صحی

با رشد جمعیت، افزایش بیماری‌های مزمن، حوادث ترافیکی، و نیاز روزافزون مردم به خدمات، تشخیص و تداوی، بیشتر گردید که ظرفیت دولت به تنهایی پاسخگوی این همهٔ نیازها نیست. سکتور خصوصی با ایجاد کلینیک‌ها، شفاخانه‌ها، لابراتوارها، مراکز تشخیصی و خدمات عاجل، این خلأ را پُر می‌کند و دسترسی مردم به خدمات صحی را گسترش می‌بخشد.

### دوهم : محدودیت منابع دولتی

دولت‌ها معمولاً با کمبود بودجه، تجهیزات، دوا و نیروی انسانی مواجه‌اند. سکتور خصوصی با سرمایه‌گذاری در تجهیزات مدرن، استخدام متخصصین و ایجاد مراکز باکیفیت، فشار را از دوش دولت برمی‌دارد و کمک می‌کند تا منابع دولتی در بخش‌های ضروری تر مانند صحت‌عامه واکسیناسیون و برنامه‌های وقایه مصرف شود.

### سوم : بهبود کیفیت خدمات صحی

سکتور خصوصی به دلیل رقابت، معمولاً خدماتی با کیفیت تر، سرعت بیشتر و برخورد بهتر ارائه می‌کند. وجود رقابت میان مراکز صحی خصوصی و دولتی باعث می‌شود تا:

- کیفیت بلند برود
- معیارها رعایت شود
- مریضان خدمات بهتر دریافت کنند

که این رقابت سالم یکی از نیازهای اساسی نظام صحی مدرن درجهان امروزی است.

### چهارم : دسترسی آسان و سریع

مراکز صحی خصوصی معمولاً در نزدیک محل زندگی مردم با ساعات کاری بیشتر، با صف کوتاه‌ترفعالیت می‌کنند. این سهولت‌ها بسیار مهم‌اند، به‌خصوص در شهرهای بزرگ که وقت مردم ارزش زیادی دارد. دسترسی سریع به خدمات صحی، از مرگ‌ومیر و عوارض شدید جلوگیری می کند.

### پنجم : ارتقاء تکنالوژی و تشخیص عصری

سکتور خصوصی معمولاً زودتر از دولت دستگاه‌ها و تکنالوژی‌های جدید تشخیصی و تداوی را وارد می‌کند مانند:

دستگاه MRI و CT-Scan،لابراتوارهای اتومات، سیستم‌های مدیریت دیجیتالی، تکنیک‌های جراحی مدرن.

که این تجهیزات پیشرفته دقت تشخیص را افزایش می‌دهد و باعث کاهش خطاهای طبی می‌شود.

### ششم :ایجاد فرصت‌های شغلی برای کارمندان صحی

سکتور خصوصی صحی یکی از بزرگ‌ترین منابع ایجاد کار برای داکتران،نرس‌ها،لابرانت ها، تکنیشن‌ها، کارمندان محیطی و مدیریتی به‌شمار می‌رود این موضوع نقش مهمی در کاهش بیکاری و افزایش ظرفیت‌سازی در کشور دارد.

### هفتم : کاهش فشار بالای شفاخانه‌های دولتی

دولت‌ها معمولاً با ازدحام شدید در شفاخانه‌ها روبه‌رو

ادامه:

هستند. سکتور خصوصی با توزیع بار خدماتی، ازدحام را کم کرده و سبب می‌شود شفاخانه‌های دولتی بر خدمات حیاتی و تخصصی‌تر تمرکز کنند.

هشتم : کمک به بهبود سیستم مدیریت و نظارت صحی

مراکز صحی خصوصی معمولاً سیستم مدیریت منظم تری دارند این تجربه باعث:

افزایش استانداردها، بهبود سیستم‌های گزارش دهی،ایجاد معیارهای جدید می‌شود که دولت نیز می تواند از آن الگوبرداری کند.

نهم:گسترش نقش سکتور خصوصی در برنامه‌های ملی صحت

بسیاری برنامه‌ها مانند: مدیریت مواد زائد صحی، پروگرام‌های وقایوی، صحت مادر و طفل، به کمک سکتور خصوصی بهتر اجرا می‌شود.

مشارکت دولت و سکتور خصوصی (PPP)بهترین مدل برای بهبود خدمات صحی است.

دهم :افزایش اعتماد و رضایت مردم

مردم زمانی راضی‌اند که خدمات سریع، باکیفیت و محترمانه دریافت کنند. سکتور خصوصی با ایجاد فضای مناسب، کارکنان آموزش‌دیده و تکنالوژی پیشرفته، اعتماد مردم را جلب می‌کند و نقش مهمی در ارتقاء سلامت عمومی ایفا می‌نماید.

نتیجه‌گیری:

نیاز به سکتور خصوصی صحی یک ضرورت اساسی برای هر کشور، به‌ویژه کشورهایی با منابع محدود، افزایش جمعیت و نیازهای رو به رشد صحی است. سکتور خصوصی نه‌تنها در بهبود کیفیت و سرعت خدمات نقش دارد، بلکه بار سنگین را از دوش دولت برمی‌دارد، نوآوری می کند، فرصت‌های شغلی ایجاد می‌کند و دسترسی مردم به .خدمات صحی را در همهٔ مناطق کشور افزایش می‌دهد

ذیدخل ساختن سکتور صحی خصوصی و مشارکت با آن از طریق تنظیم و نظارت موثر انکشاف و تطبیق قوانین و پالیسی ها و استراتیژی های حمایت کننده بهبود ارتباط تشریک مساعی و ظرفیت سازی در وزارت صحت‌عامه در عرصه تنظیم سکتور صحی خصوصی نیاز می باشد.

->تقویت تامین ارتباطات موثر در مقابل تشریک مساعی و اعتماد بین سکتور های صحی عامه و خصوصی.

تقویت محیط تقنینی جهت تسهیل رشد و کیفیت خدمات

->سکتور خصوصی و افزایش سهمگیری آن در صحت مردم افغانستان.

->ایجاد مشارکت های مفید بین سکتور های عامه و خصوصی برای رسیدن به اهداف و منافع مشترک.

->تقویت ظرفیت رهبری و نظارت برای ذیدخل ساختن سکتور خصوصی برای تطبیق معیارات.

->انکشاف مدارک و شواهد و پیمایش سهمگیری سکتور خصوصی در برنامه ها و اهداف صحی وزارت صحت‌عامه وزارت صحت‌عامه انکشاف و تقویه اتحادیه های سکتور صحی خصوصی را تشویق خواهد کرد.

->وزارت صحت‌عامه رول متمم سکتور خصوصی صحت را در امر فراهم نمودن خدمات صحی ثانوی و ثالثی تقدیر می نماید.

->واضیح ساختن صلاحیت ها و ظایف و مسوولیت ها برای ایجاد هماهنگی و نظارت از نهاد های خصوصی.

->ایجاد میکانیزم حل اختلافات امور تنظیمی و رسیده گی به شکایات سکتور خصوصی صحی.

وزارت صحت‌عامه روی از بین بردن روش های زیان آور به صحت مریضان تمرکز نماید تا یک سیستم قوی و منظم خدمات سکتور صحیخصوصی در افغانستان ارایه گردد.



## د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ بهرني سفرونه



### هندوستان هېواد ته د عامې روغتیا وزیر سفر

دا سفر چې د دواړو هېوادونو د روغتیایي همکاریو د پیاوړتیا، د تجربو تبادلې او ګډو هڅو د تنظیم په موخه ترسره شو څو ورځې یې دوام درلود، چې پرمهال یې د هند له بېلابېلو مسؤولینو او په ځانګړې توګه د روغتیا له مسؤولینو سره جلا کتنې ترسره شوې او په دغه هېواد کې د روغتیا یو شمېر مهمو مجالسو کې ګډون ترسره شو، چې په کې د افغان روغتیایي کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې زمینې برابرول، افغانستان ته د معیاري درملو را واردول، طبي تجهیزاتو او نورو موادو اړوند بحثونه او خبرې وشوې.

هند هېواد ته د سفر لومړنۍ لیدنه د دې هېواد د روغتیا او کورنۍ هوساینې له وزیر جګت پراکاش ندا سره تر سره شوه.

له نوموړي سره د روغتیایي اړیکو پر پیاوړتیا، د افغان روغتیایي کارکوونکو ظرفیت لوړونې ته د زمینې برابرولو، افغانستان ته د معیاري درملو را واردولو، د سرطاني ناروغیو د درملنې برخه کې د درملو او ظرفیت لوړونې، افغان ناروغانو ته هند کې د درملنې او ویزې برابرولو پر اسانتیا، د افغانستان روغتیایي مراکزو ته د طبي تجهیزاتو برابرولو او ځینې نورو موادو اړوند خبرې تر سره شوې.

په دې ناسته کې د هند هېواد د روغتیا وزیر افغانستان له ولسونو سره د درملو، واکسین او نورو اړینو برخو کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د هند د ایوش له وزیر سره د دودیزې درملنې د همکارۍ ناسته.

د "ایوش" له وزیر شري پرتاپراو جادف سره لیدنه ترسره شوه، چې په کابل کې د دودیزې درملنې اړوند انسټیټیوټ او د څېړنې مرکز جوړېدنې، د دودیزې درملنې اړوند اشخاصو روزنه کې مرستې او د دوه اړخیزو همکاریو یو هوکړه لیک لاسلیک کېدنې اړوند خبرې و شوې.

مقابل لوري په دې برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.



د عامې روغتیا وزیر دغه راز په هند کې د درملیزو فابریکو او اتحادیو له مسؤلینو سره د درملو وارداتو او پانګونې په اړه ناسته تر سره کړه.

په دې لیدنه کې افغانستان ته پر معیاري درملو واردولو، د قیمت او کیفیت برخې ته ځانګړې پاملرنې، په افغانستان کې پر پانګونې او ځینو نورو موضوعاتو خبرې وشوې.

مقابل لورې ډاډ څرګند کړ، چې په اوس وخت کې به د افغانستان مارکیټ کې هیڅ کمی نه را منځته کېږي، او په دې برخه کې یې د هر ډول همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

عامې روغتیا وزیر هند هېواد ته د سفر په جریان کې د دودیزو درملو اړوند د روغتیا نړیوال سازمان دویمه نړیواله سرمشریزه کې ګډون وکړ.

دا غونډه چې د هند هېواد د ایوش وزارت سره په همغږۍ جوړه شوې وه د نړدې ۱۰۰ هېوادونو استازو، د نږدې د ۲۳ هېوادونو د روغتیا وزیرانو، د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو څخه مسلکي متخصصینو او د روغتیا نړیوال سازمان د ټولو حوزو مسؤولینو ګډون درلود.

په دغه سرمشریزه کې د دودیزې درملنې په معیاري کېدنې، د دې درملنې اړوند اشخاصو پر روزنې، دودیزه درملنه په یو حقیقت منلو او د دې درملنې لپاره د تجاربو شریکولو اړوند خبرې تر سره شوې.

د میکس او میترو د زړه فوق تخصصي روغتونونو څخه لیدنه.

په دې لیدنه کې د دواړو روغتونو له بېلا بېلو څانګو او خدماتو څخه لیدنه ترسره شوه، چې موخه یې په هېواد کې دننه د روغتیایي خدماتو د پیاوړتیا لپاره د تجاربو تر لاسه کول وو.

دوام:

عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د هند هېواد د چاپېريال، ځنګلونو او اقليم بدلون وزارت او د دولت په چارو کې د بهرنيو اړيکو له وزير کيرتي وردان سينګ سره وليدل.

په دې ليدنه کې په بيلا بيلو اړينو موضوعاتو ، چې موخه يې د روغتيا په برخه کې همکارۍ جلبول، ظرفيت لوړونه، د درملو اوږدمهاله تأمين، او د روغتيا سکتور کې د پراختيايي همکاريو پياوړتيا وه ، خبرې تر سره شوې.

دغه راز د عامې روغتيا وزارت تخنيکي ټيم هند هېواد کې د ياد هېواد د خوړو او درملو سټنډرډ ادارو له مسؤلينو سره جلا ناستې ترسره کړې.

په دې ناستو کې، افغانستان ته پر معياري درملو واردولو، قيمت او کيفيت برخې ته د ځانګړې پاملرنې، افغانستان کې پر پانګونې او ځينو نورو موضوعاتو باندې بحث او خبرې تر سره شوې.

د هند هېواد د خوړو او درملو اتحاديو مسؤلينو د خوړو او درملو د کيفيت او قيمت برخه کې تخنيکي ټيم ته ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، د معياري درملو د توليد او صادراتو ترڅنګ چمتو دي، چې د درملو په برخه کې تخنيکي همکارۍ او هم افغانستان کې پانګونه وکړي.

د ياد هېواد د درملو پراختيايي ادارې (PharmEXCIL) له مسؤلينو سره ناسته.

په دې مجلس کې د درملو، طبي محصولاتو او روغتيايي تجهيزاتو په برخه کې د همکاريو او دوه اخيزو اړيکو پر پراختيا خبرې وشوې او دواړو لوريو د درمل جوړونې د ظرفيت پياوړتيا، ارزانه او باکيفيته درملو ته د لاسرسي پر اهميت ټينګار وکړ.

عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د روغتيا نړيوال سازمان له عمومي مشر، ښاغلي ډاکټر ټيډرس ادهانوم سره په هند هېواد کې ليدنه تر سره کړه.

په دې ليدنه کې افغانستان کې د پوليو ويروسي ناروغۍ د تشخيص په موخه د معياري لابراتوار د خدماتو پر ځرنګوالي ، د افغانستان روغتيايي سيستم د پياوړتيا په موخه د نړيوالو د ملاتړ، د افغانستان د روغتيايي سيستم سره د همکارۍ او پراختيا لپاره د بديلو سرچينو په موندنې، په نړيوالو روغتيايي کنفرانسونو او غونډو کې د افغان روغتيايي مسؤلينو د ګډون او د هېواد په ۳۱۸ ولسواليو کې د جوړېدونکو عمومي روغتونونو په تجهيز بحث او خبرې تر سره شوې.

د روغتيا نړيوال سازمان عمومي مشر په پورته برخو کې د بشپړې همکارۍ ډاډ ځرګند کړ او ويې ويل، دی به د روغتيا نړيوال سازمان له ټولو غړو هېوادونو سره د روغتيايي خدمتونو د برابرۍ، د ناروغيو د مخنيوي او د ټولنې د روغتيا لا ښه کولو لپاره خپل ملاتړ او همکاري جاري وساتي.

د هند حکومت له لوري ځانګړې شوې مرستې:

-> د پنځه ميليونه ډالرو په ارزښت بېلابېل واکسينونه
-> د درې ميليونه ډالرو په ارزښت د سرطان ناروغۍ د راديوتراپۍ ماشين.
-> د يو ميليون ډالرو په ارزښت پنځه ټنه د سرطاني ناروغيو درمل.
-> د ۳۰۰ زره ډالرو په ارزښت د سيټی سکن ماشين
-> د ۵۰۰ زره ډالرو په ارزښت د يو روغتون او تلسيميا د يو مرکز جوړول.
-> روغتيايي متخصصينو او کارکوونکو ته د ظرفيت لوړنې پروګرامونو برابرول.
-> د يو افغان پانګه وال لخوا د اويا زره پيچکاري امپولنو مرسته.



دوام:

## ایران هېواد ته د عامې روغتیا وزیر سفر

د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي ایران ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د ماشومانو ناروغیو درملنې طبي مرکز (مرکز طبي کودکان) او حکیم د ماشومانو ناروغیو درملنې روغتون له مسؤلینو سره په دوو جلا غونډو کې لیدنه وکړه.

په دې لیدنو کې په بېلا بېلو برخو (د هډوکو د مغز ټرانسپلانټ، نفرولوژي، زړه او یو شمېر نورو فوق تخصص برخو) کې د افغان روغتیایي کارکوونکو د روزلو او په افغانستان کې د ماشومانو ناروغیو درملنې له دولتي روغتونونو سره د دوه اړخیزو همکاریو په موخه د هوکړه لیک په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د یادو روغتونونو مسؤلینو په ذکر شویو برخو کې د افغان روغتیایي کارکوونکو د روزلو او په افغانستان کې د ماشومانو ناروغیو درملنې له دولتي روغتونونو سره د هوکړه لیک، چې له مخې به یې په بېلا بېلو برخو کې تجربې شریکې او د دوه اړخیزو همکاریو لار پرانیستل شي، د ژمنتیا ډاډ څرګند کړ.

دغه راز د عامې روغتیا وزیر، د ایران په مرکز تهران کې فوق تخصصي پروګرامونو کې د تحصیل کوونکو افغان متخصصینو سره لیدنه ترسره کړه.

په دې لیدنه کې د عامې روغتیا وزیر، د فوق تخصصي برنامو ګډونوالو او افغان متخصصینو وړاندیزونه او ستونزې په غور سره واورېدلې او هغوی ته یې د اسانتیاوو د ایجاد او ستونزو د حل ډاډ ورکړ.

دغه راز، ښاغلي وزیر یادو متخصصینو ته د ډاډ تر څنګ وویل، تاسې ته افغانان اړتیا لري او د تحصیلي دورې له بشپړولو وروسته به تاسې ته په دولتي سکټور کې د خدمت کولو زمینه برابره شي، ترڅو تاسې وکولای شئ د روغتیایي خدماتو په برخه کې نوې تجربې شریکې او د غوره خدماتو وړاندې کولو ذریعه شئ.

ورته مهال ښاغلي مولوي نور جلال جلالي ایران هېواد ته د خپل سفر په جریان کې د ایران-هیلت په نوم د روغتیایي محصولاتو اړوند نندارتون کې ګډون وکړ، او هلته یې د طبي تجهیزاتو له بېلابېلو غرفو څخه لیدنه وکړه.

له یاد نندارتون څخه د لیدنې پر مهال ښاغلي وزیر وویل، د افغانستان او ایران تر منځ د روغتیا د برخې همکاریو د پراختیا لپاره یو ښه فرصت رامنځته شوی، چې د دواړو لوریو پانګه وال باید له دې فرصت څخه مثبته ګټه واخلي.

د عامې روغتیا وزیر، ایران هېواد ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې چې څو ورځې دوام یې درلود د بقیة الله له روغتون او پوهنتون څخه لیدنه تر سره کړه.

ښاغلي وزیر، په دې لیدنه کې د روغتون او طبي پوهنتون له مسؤلینو سره د روغتیایي تجاربو په شریکولو د روغتیایي کارکوونکو په ظرفیت لوړونې او د ګڼ شمېر نورو اړینو موضوعاتو اړوند خبرې وکړې.

ښاغلي جلالي ته د یاد روغتون او پوهنتون مسؤلینو د افغان روغتیایي کارکوونکو د ارتقاء ظرفیت اړوند ډاډ ورکړ او څرګنده یې کړه چې د لنډ مهاله او اوږدمهاله برنامو له لارې به همکاري جاري ساتو، تر څو د تجاربو په شریکولو د روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړونې لپاره لا کار وشي.

د یادونې وړ ده چې د عامې روغتیا وزارت هڅه کوي، د هیواد په داخل او خارج کې د روغتیایي کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړونې لنډ مهاله او اوږدمهاله برنامې برابرې او په هېواد کې د شته تخصصي برخو لا پراختیا ته زمینه مساعده کړي.



دوام:



## سعودي عربستان ته د عامې روغتيا وزير سفر

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د سعودي عربستان هېواد د روغتيا وزير په رسمي بلنه له مل پلاوي سره سعودي عربستان ته رسمي سفر ترسره کړ.

ياد سفر چې د دواړو هېوادونو تر منځ د روغتيايي همکاريو او همغږۍ د پياوړتيا، تجربو شريکولو او د ګډو هڅو په موخه تر سره شو، په ترڅ کې يې د عامې روغتيا وزير، ښاغلی مولوي نور جلال جلالي د سعودي عربستان شاهي دولت د عامې روغتيا له وزير ښاغلي فهد عبدالرحمن الجلاجل سره ليدنه ترسره کړه.

په دې ليدنه کې چې د پاکستان د روغتيا وزير هم شتون درلود ،د ساري او غير ساري ناروغيو پر وقايوي تدابيرو ، د نشه يي توکو د استفادې څخه د مخنيوي، د روغتيا برخه کې د لا ښې همکارۍ، د درملو کيفيت او قانوني وارداتو خونديتوب، د پوليو په له منځه وړلو کې د مؤثرې همغږۍ او همکارۍ رامنځته کولو، د پوليو له منځه وړلو برخه کې د پاتې ننګونو او د سلمان بنسټ له لوري د روغتيايي جوړښتونو د تقويه کولو په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

دغه راز ښاغلي وزير، د اتم دور نړيوال روغتيايي ننداړتون عمومي غونډه کې ګډون وکړ په دې ننداړتون کې چې د بېلابېلو هېوادونو استازو، د نړيوالو روغتيايي بنسټونو او روغتيايي ټکنالوژۍ متخصصينو ګډون کړی و، د افغانستان د عامې روغتيا وزير له بېلا بېلو طبي وسايلو، د مصنوعي ځيرکتيا، ټکنالوژۍ او د روغتيايي خدماتو اړوند تجهيزاتو څخه ليدنه وکړه.

ورته مهال، د ننداړتون د عمومي مجلس په ترڅ کې د روغتيايي خدمتونو ښه والي، د نوې ټکنالوژۍ د پلي کولو او د عامې روغتيا د پاليسۍ د نوښتونو په اړه هر اړخيز بحثونه وشول.

د دغه سفر پرمهال ښاغلي مولوي نور جلال جلالي او مل پلاوي د شاه سلمان بنسټ له رئيس ښاغلي دکتور عبدالله ربيعه سره ليدنه ترسره کړه.

په دې ليدنه کې د افغانستان د روغتيا له سکتور سره د شاه سلمان بنسټ د انکشافي او بشري مرستو په چوکاټ کې د همکاريو پر ايجاد او پراختيا، د سرطاني، قلبي او د ولسواليو د کچې عمومي روغتونو په مجهز کولو او د ساري ناروغيو سره پر مبارزې خبرې تر سره شوې.

همدا شان د عامې روغتيا وزير، سعودي عربستان ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د رياض حطين سيمې له بنسټيز روغتيايي مرکز څخه ليدنه وکړه.

د عامې روغتيا وزير، د دې ليدنې پر مهال د ياد روغتيايي مرکز له اداري او تخنيکي کارکوونکو سره خبرې وکړې او د دې مرکز د وقايوي، معالجوي او تشخيصيه خدماتو د نوعيت په اړه يې له روغتيايي کارکوونکو څخه معلومات تر لاسه کړل.

د يادونې وړ ده چې د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي سعودي عربستان ، ته د خپل سفر پر مهال له بېلا بېلو مسؤلينو سره ليدنې تر سره کړې، چې موخه يې د هيواد د روغتيايي سيستم پرمختګ او د نړيوالو سره د لا ښې همغږۍ رامنځته کول دي.

دوام:

## قطر هېواد ته د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال سفر

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني قطر هېواد ته د سفر په ترڅ کې د پوليو له منځه وړلو نړيوالو نوښتونو کنفرانس کې ګډونوالو ته وينا ترسره کړه.

په دې کنفرانس کې په قطر کې د افغانستان سفير محمد سهيل شاهين، د افغاني سرې مياشتې مرستيال عزيزالرحمن، د بيل ګېټس بنسټ او د پوليو محوه کولو نړيوال ابتکار (GPEI) استازو او روغتيا پالانو شتون درلود.

د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني ياد کنفرانس د افغانستان روغتيايي سکټور د موجوده حالت په اړه د نړيوالو روغتيايي شريکانو سره د بحث او همغږۍ لپاره مهم فرصت وباله او ويې ويل، اوس په ټول هېواد کې سرتاسري امنيت رامنځته شوی دی او په کار ده، چې د افغانستان روغتيايي سکټور د پياوړتيا لپاره له دې فرصت څخه ګټه واخيستل شي، روغتيايي خدمتونه باکيفيته شي او هغو سيمو ته وغځول شي، چې پخوا يې روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی نه درلود، چې له نيکه مرغه د افغانستان عامې روغتيا وزارت په دې برخو اساسي کار پيل کړی؛ تر څو روغتيايي سکټور د ښه والي ترڅنګ په تدريجي ډول د ځان بسياينې لور ته يوسي.

ښاغلي مرستيال زياته کړه، تر ټولو مهمه دا ده چې ښه همغږي ولرو؛ تر څو په يوه سيمه کې د ورته خدمتونو له وړاندې کولو څخه مخنيوی وشي او منابع په مؤثره توګه مصرف شي، اسلامي امارت د نړيوالو، داخلي او بهرنيو مؤسساتو سره پوره همکار دی؛ تر څو په ګډه وکولای شو له افغانستان څخه د پوليو ناروغي محوه کړو او له پوليو څخه پاک افغانستان ولرو، چې دې موخې ته د رسېدو لپاره بايد د واکسين پوښښ پراخ او پر روټين او اوټېريچ واکسين بايد تمرکز زيات شي.

د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال همداراز، له ګډونوالو وغوښتل، چې هېواد ته بېرته راستنېدونکي افغانان هم بايد له پامه ونه غورځول شي او دې برخې ته هم بايد لازمه پاملرنه وشي.

دغه راز د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، قطر هېواد ته د سفر په ترڅ کې د افغانستان لپاره د ايټاليې له سفيرې، اغلې سبرينا سره وکتل په دې ليدنه کې د روږدو او معلولينو روغتيايي وضيعت ته د رسېدنې، د ميندو او ماشومانو د روغتيا، خوارځواکۍ د مخنيوي، روغتيايي پرسونل د ظرفيت لوړونې او د ولسواليو په کچه د روغتيايي خدماتو پراختيا او پياوړتيا اړوند خبرې ترسره شوې.

د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني يادو برخو ته پاملرنه اړينه وبلله او روغتيايي سکټور کې پر شفافيت، حساب ورکولو، کارونو کې د ځنډ او ځنډ څخه مخنيوي او د مرستو پر عادلانه وېش او اغېزمنې ګټې اخيستنې يې ټينګار وکړ.

## ترکيې هېواد ته د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال په مشرۍ د يو پلاوي سفر

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو مرستيال ښاغلی مولوي عبدالولي حقاني له لوړ رتبه پلاوي سره په رسمي سفر ترکيې هيواد ولاړ.

په دغه سفر کې چې له ښاغلي مرستيال سره د عامې روغتيا وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس شيخ محمد طاهر حليم ، د نړيوالو اړيکو او مرستو د انسجام رئيس مولوي محمد داود منصوري ، د پلان او پاليسۍ لوی رئيس ډاکټر سيد رسول منګل ، د معالجوي طب لوی رئيس ډاکټر وحدت الکوزي او ځينې نورو مسؤلين شتون درلود، چې موخه يې د روغتيا په برخه کې د نويو تجاربو تر لاسه کول، د ترکيې هېواد له ځينې روغتيايي او علمي مراکزو څخه ليدنه ، د ترکيې هېواد له روغتيايي او دولتي مسؤلينو سره ليدنې ، د اړيکو او همکاريو ايجاد او پراختيا وه.

همدارنګه نوموړي پلاوي د خپل سفر پر مهال له بېلا بېلو خصوصي او دولتي مسؤولينو سره ليدنې تر سره کړې چې موخه يې د هېواد د روغتيايي سيستم پرمختګ او ترکيې هېواد سره د روغتيا په برخه کې د لا ښې همغږۍ رامنځته کول دي.

## د تغذيې رول د نري رنځ (TB) په مديريت کې

**رنځورمل دوکتور صباح الدين (سبا)**

نرى رنځ (Tuberculosis, TB) د نړۍ له تر ټولو پراخو ساري ناروغيو څخه دى.

د (Mycobacterium tuberculosis) له امله منځ ته راځي او په ځانګړي ډول د هغو هېوادونو خلک زيات اغېزمنوي چې اقتصادي ستونزې، د روغتيايي خدماتو کموالى او د تغذيې ناسم حالت لري.

د (TB) د مديريت مهم اړخ نه يوازې درملنه ده بلکې د ناروغانو تغذيه هم ده، ځکه چې ښه تغذيه د معافيتي سيستم د پياوړتيا او د درملنې د برياليتوب لپاره اساسي رول لري.

### د تغذيې او معافيت اړيکه:

تغذيه د معافيتي سيستم په فعاليت کې حياتي رول لري. د پروټينونو، ويټامينونو او منرالونو کموالى د بدن د دفاعي ميکانيزمونو کمزورتيا لامل کېږي او د (Mycobacterium tuberculosis) پر وړاندې د بدن مقاومت ټيټوي.

پروټين کموالى: د معافيتي حجرو جوړښت او فعاليت کمزورى کوي.

مايکرونيوټرينټس کموالى: (Vitamin A, D, C, E, Iron, Zinc, Selenium) د مکروفاژ، لنفوسايت او سايټوکنونو فعاليت محدودوي.

Energy deficiency : د ناروغۍ د شدت او د بيا رغونې په پروسه مستقيم اغيز کوي.

### د (Malnutrition او TB) دوه طرفه اړيکه

-> د TB ناروغان اکثراً د وزن کمښت، ستړيا او اشتها له لاسه ورکولو سره مخ کېږي.

Malnutrition د TB : د فعالېدو او د ناروغۍ د اوږدېدو خطر زياتوي.

(TB) د انرژۍ ارتياوې لوړوي، نو ناروغان بايد اضافي کالوري او پروټين ترلاسه کړي.

### د تغذيې رول په درملنه کې:

د وزن بيا اعاده : (Weight gain) ښه تغذيه د ناروغانو په بيا رغونه کې مهمه ده.

د درملو اغېز زياتول: د ښې تغذيې له امله د Anti-TB drugs اغېز ښه کېږي.

د درملو اړخيز عوارض کمول: ښه تغذيه د hepatotoxicity، neuropathy او gastrointestinal) ستونزو مخه نيسي.

د معافيت تقويه: د تغذيې ملاتړ د (latent TB) د فعالې ناروغۍ بدلېدل کموي.

### د مهمو غذايي موادو رول:

پروټين: د حيواني سرچينو (غوښه، هګۍ، لبنيات) او نباتي سرچينو (لوبيا، نخود، دال) څخه بايد زيات شي.

Vitamin D: د (Macrophage) فعاليدو او (Antimicrobial peptides) د توليد لپاره اړين دي.

Vitamin A & C: په کمولو او د معافيتي Oxidative stress ځواب په تقويه کې مرسته کوي.

Zinc & Iron : د معافيتي حجرو د فعاليت او د وينې د جوړښت لپاره مهم دي.

Selenium : د انټي اکسيډنټ په توګه د حجرو د دفاع لپاره حياتي رول لري.

### د تغذيې وقايوي رول:

د مناسب تغذيه لرونکو خلکو د (TB) په اخته کېدو خطر ټيټ وي. د عامې روغتيا د پروګرامونو يوه مهمه برخه بايد د خوراکي امنيت او مايکرونيوټرينټس پوره کول وي، څو د TB د خپرېدو مخه ونيول شي .

نو تغذيه د نري رنځ په مديريت کې د درملنې تر څنګ يو بنسټيز رول لري. د ښه تغذيې لرونکي ناروغان د درملنې پر مهال ښه ځواب ورکوي، د درملو عوارض په کې کم وي او د بيا اخته کيدو چانس يې ټيټ وي.

نو له همدې امله د TB د مديريت پروګرامونه بايد د تغذيې ملاتړ د اساسي برخې په توګه شامل کړي.

### ماخذونه (References) :

1.van Lettow M, et al. Malnutrition and the severity of tuberculosis. J Infect Dis. 2004.
2.Cegielski JP, McMurray DN. The relationship between malnutrition and tuberculosis. Clin Infect Dis. 2004.
3.Bhargava A, et al. Nutritional support and tuberculosis treatment outcomes. J Infect Dis. 2014.
4.World Health Organization. Nutritional care and support for patients with tuberculosis. WHO Guidelines, 2013



## نبوي ملغلرې

-> د ناروغۍ وقايه:

قال رسول الله ﷺ:

«فِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ»

ژباړه : له جذامي (ساري ناروغ) څخه داسې وتښته لکه له زمري څخه چې تښتې.

صحيح البخاري: ۵۷۰۷

اسلام د ساري ناروغيو د مخنيوي لپاره احتياط او فزيکي واټن ته لارښوونه کوي، څو روغ انسانان خوندي پاتې شي.

-> قرنطين (طبي احتياط):

قال رسول الله ﷺ:

إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا، وَإِذَا وَقَعَ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا

ژباړه:

کله چې په کومه سيمه کې وبا واورئ، مه ورننوځئ او که تاسې پکې ياست، مه ترې وځئ

صحيح البخاري: ۵۷۲۸، صحيح مسلم: ۲۲۱۹

دا حديث د قرنطين اصل بيانوي او د ناروغيو د خپرېدو مخنيوي ته بنسټيزه طبي لارښوونه ده.

-> نظافت او پاکوالی:

قال رسول الله ﷺ: الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ

ژباړه:پاکوالی د ايمان نيمه برخه ده

صحيح مسلم: ۲۲۳

پاکوالی د بدن، جامو او چاپېريال ساتنه ده چې د ډېرو ناروغيو مخه نيسي.

-> متوازن خوراک:

قال رسول الله ﷺ: مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنِهِ

ژباړه:انسان تر خپلې معدې بد لوښی نه دی ډک کړی.

سنن الترمذي: ۲۳۸۰

زيات خوراک د ډېرو ناروغيو لامل ګرځي، اسلام اعتدال او روغتيايي تغذيه توصيه کوي.

-> اعتدال په خوړلو کې:

قال رسول الله ﷺ: بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ لُقَيْمَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ

ژباړه: د انسان لپاره دومره مړی بس دي چې ملا يې پرې سمه پاتې شي.

سنن ابن ماجه: ۳۳۴۹

ساده او په اندازه خوراک د بدن روغتيا، ښه هاضمې او فعال ژوند سبب ګرځي.

دوام:

-> صحت یکی از هدیه هـای خداونـدی است قسـمی کـه الله تعالی می فرماید:

إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَاهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ.

.[البقرة: 247]

ترجـمـه : بی‌شک او را الله تعالی بـر شما برگـزید، فـراخی بیشتر به او داده شد در علم و جسم الله تعالی است که می‌دهد از پادشاهی خود به کسی که بخواهد الله تعالی است فضل کننده و دانا به همه چیز.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ، فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ»

ترجمه حدیث: مـؤمـن نـیرومـند بهتر و نزد الله مـحبـوب‌تر از مـؤمـن ضـعیف است، و در هـر دو خـیـر وجـود دارد. بـر آنـچه برایت سودمند است حریص باش، از الله یاری بجوی و ناتوانی مکن. و اگر چیزی به تو رسید، مگو: اگر من چنین می‌کردم، چنین و چنان می‌شد؛ بلکه بگو: این تقدیر الله ”است و آنچه او خـواسته انجـام داده است؛ زیرا گفتنِ، “ اگـر درِ کار شیطان را باز می‌کند. صحت بهترین نعمت بعد از یقین( ایمان ) است

ففي سنن والترمذي أَنَّ مُعَاذَ بْنَ رِفَاعَةَ، أَخْبَرَهُ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَامَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ، عَلَى المِنْبَرِ ثُمَّ بَكَى فَقَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الأَوَّلِ عَلَى المِنْبَرِ ثُمَّ بَكَى فَقَالَ: «اسْأَلُوا اللَّهَ العَفْوَ وَالعَافِيَةَ، فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ .«بَعْدَ اليَقِينِ خَيْرًا مِنَ العَافِيَةِ


ترجـمـه : در سنن تـرمـذی آمده است که معـاذ بن رفـاعه از پدرش روایت کرده است که گفت:

ابوبکر صدیق رضی‌الله‌عنه‌بر منبر ایستاد، سپس گریست و گفت: رسـول الله صلـی‌الله عـلـیه وسلـم در سـال گـذشته بر منـبر ایستاد، سپس گریست و فرمود:

از الله مـتعـال عفو (بـخشش) و عافیت (سلامتی) بـخواهید زیـرا بـعـد از یقین (ایمـان)، هیچ نـعمتی بهـتر از عـافیت به کسی داده نشده است. برای ما لازم است هرگاه شخصی را در مصیبت و ابتلا الهی در صحت دیدیم باید تجدید حمد و شکر بجا آورده شود هما نطور که در ارشادات نبوی راهنمائی فرمودند.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ رَأَى مُبْتَلًى، فَقَالَ: الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا، لَمْ يُصِبْهُ ذَلِكَ البَلَاءُ "( أخرجه الترمذي).

ترجـمـه: از ابـوهـریـره رضی‌الـلـه عـنه روایت اسـت که گفت رسول الله صلی‌الله علیه وسلم فرمودند «هر کس شخص مبتلایی را ببیند و بگوید (سپاس خدای را که مرا از آنچه تو را به آن مبتلا سـاخـته، عـافـیت بخـشید، و مـرا بـر بسیاری از آفریده‌هایش برتری داد)



# اسکاریازس (Ascariasis)

رنځوروال ډاکټر عبدالاحد سرخرودی ټرینر متخصص

لنډیز:

د ناروغۍ پېژندنه، سببي لامل، مایکروبیولوژي، د لېږد لارې، د ژوند دوران، کلینیکي بڼه، تشخیص، توپیري تشخیص، اختلاطات، درملنه او د مخنیوي په لارو چارو باندې بحث شوی.

سریزه:

په نړۍ کې نږدې ۸۰۰ میلیونه انسانان په اسکاریازس ناروغۍ اخته دي او هر کال (۱۰۰۰۰) یا زیات کسان د اسکاریازس ناوړه اغېزې له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي، په هغه ځایونو کې لړه وي، چې روغتیا ساتنې شرایط یې خراب وي.

د انسانانو ډکې میتیازې د پټیو د سرو په توګه کارول کېږي په دې سیمو کې نږدې په سلو کې ۸۰ وګړي په ناروغۍ اخته دي، انسان په هر سن کې رامنځته کېدای شي، خو پېښې یې په کوچنیانو کې ډېرې دي.

تعریف:

د کولمو یو معمول پرایزیټي انتاني ناروغي ده چې (Ascaris Lumbricoids) په واسطه رامنځته کېږي، د پرازیتولوژي له نظره نوموړي چینجي ۲۰ تر ۴۰ سانتي متر اوږدوالی او ۳-۶ ملي پنډوالی لري د ژوند موده یې د ۱۰ـ ۲۴ میاشتو پورې تخمین شوې، د دې پرازیت ښځینه ډول په ورځ کې (۲۰۰۰۰۰) هګۍ په ډکو میتیازو کې بهر چاپېریال ته غورځوي، هګۍ تر درې اوونیو په خاورو کې پاتې کېږي، تر څو چې د منتن کېدو ځانګړتیاوې پیدا کړي (کولای شي تر څو کالو پورې هم پاتې شي ناروغۍ هغه وخت رامنځته کېږي چې د پرازیت هګۍ په واسطه ککړ شوي خوراکي مواد او یا اوبه د انسانانو په واسطه وخوړل شي د نوموړي پرازیت لپاره انسان کوربه دی.

د خپرېدو لارې:

نوموړی پرازیت د ککړو اوبو او خوړو په واسطه روغ کس ته انتقالېږي.

د ژوند دوران: کله چې د پرازیت هګۍ وخوړل شي کوچنۍ کولمو ته ځان رسوي او خوځنده لاروا جوړوي چې دا د کوچنۍ کولمو له دېوال څخه تېرېږي د لمف او مساریقوي وینو له لارې ځان ښي زړه ته رسوي، د زړه څخه سږو ته حرکت کوي د انساجو دېوال سوری کوي او (Bronchial Tree) خو اته پرمخ ځي له دې ځای څخه بلعوم، مرۍ او بیا کوچنیو کولمو ته ځان رسوي.

شکل او کلینیکي بڼه: زیاتره ناروغان غیر اعراضي وي په لړه فیصدۍ کې د هضمي سیستم(کولمو) او د هضمي سیستم څخه بهر اعراض او علایم رامنځته کېږي چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

-->په کولمو کې: د کولمو بندښي اعراض چې د چینجیانو د یو غټې کتلې له امله رامنځته کېږي د خېټې درد چې کېدای شي د لاندې عواملو له امله په ناروغ کې رامنځته شي، لکه : (Appendicitis, Intussusception,Volvulus) (choly systitis, Pancreatitis له امله ډیرې ناروغانو کې د صفراوي قنات د بندېدو له امله رامنځته کېږي، د سویې هضم او جذب له امله اعراض او علایم لکه، وزن بایلل، وینه لږې او د لږ فزیکي فعالیت سره زر ستړی کېدل د مهمو اعراضو څخه ګڼل کېږي.

--> د کولمو څخه بهر: مهاجروي اعراض او علایم لکه په مرکزي عصبي سیستم کې د انسفلایتس اعراض په تنفسي سیستم کې برانکیال استما او په پوستکي کې د لړمي ښکاره کېدل د عمده اعراضو څخه ګڼل کېږي.

تشخیص: د کولمو د مرحلې تشخیص په ډکو میتیازو کې د هګۍ په لیدلو والړ دی کله ـ کله پوښ چینجی په خپل سر د رکتوم یا د خولې له لارې بهرني چاپېریال ته راوځي. د سږو په مرحله کې (50-30% Eosinophilia) ته رسیږي او د میاشتو پورې په همدې کچه پاتې کېږي، کله کله لاروا په بلغم کې پیدا کولای شو د سږو په راډیوګرافي کې (Patchy infiltration) د لیدلو وړ وي، که چیرې چنجیان د کولمو د بندښت لامل شوي وي نو د ګېډې ساده راډیوګرافي توصیه کېږي چې کېدایشي د هوا او مایع خیال په کلیشه کې د لیدلو وړ وي د ګېډې تلویزیوني معاینه (الټراسونډ) پړسیدلې کولمې او د چینجیو کتله راپه ګوته کوي

دوام:

توپیري تشخیص: د تنفسي سیستم غیري پرازیتي ناروغیو سره لکه استما Loeffler s Syndrome Eosinophilic Allergic Bronchopulmonary Aspergelosis Pneumonitis اوپرازیټي ناروغیوسره لکه (توکسوکاریازس ټراپیکل پلمونري ایزینوفیلیا، چنګک لرونکي چینجیان (Strongyloidiasis) سره توپیر شي همدارنګه د هضمي سیستم نورو ناروغیو سره لکه (Dyspepsia) د معدې زخم، د صفرا کڅوړې ناروغۍ (Hiatal Hernia) او د پانکراس ناروغیو سره توپیر شي.

اختلاطات: کولانجایتس، پانکریاتایتس، کولی سیستایتس، د ځیګر تقحیي ابسې، د کولمو بندیدل او انسدادي ژیړې چې کېدای شي مړینې لامل وګرځي.

درملنه: Pyrantepamoate Albendazoleاو Mebendazole ور او انتخابي درمل ګڼل کېږي

Albendazole : یو دوز ۴۰۰ ملي ګرام ورکول کېږي چې په ٪ ۹۵ پېښو کې اغیزمتوب لري که چیرې چینجیان زیات وي نو د دوه څخه تر درې پورې کورس استطباب لري، په حاملګۍ کې نوموړي درمل استطباب نه لري مګر روغتیا نړیوال سازمان اوس په امیندوارۍ کې د دې درمل د ورکړې سپارښتنه کوي.

Pyrantepamoate : ۱۱ملي ګرام د بدن په هر کیلو ګرام وزن په یو واحد دوز ورکول کېږي او لوړه کچه یې یو ګرام پورې ورکولای شو (۸۵ تر ٪۱۰۰) اغېزمن دي، کانګې سرچرخي او خوبجن حالت رامنځته کوي.

Mebendazole : ۱۰۰ملي ګرام د ورځې دوه ځلې له ډوډۍ (خوراک) څخه مخکې یا وروسته د درې ورځو لپاره ورکول کېږي همدارنګه یو کره دوز یې ۵۰۰ ملي ګرامه هم کافي دی نوموړي درمل ښه تحمل کړی په بعضې ناروغانو کې د خفیف معاې تشوشات او سردردي، سرچرخي او خوبجن حالت سبب کېږي د یادونې وړ ده چې پورتني درمل د یو کال څخه د زیات عمر لرونکو ماشومانو او امیندوارۍ کې محفوظ دي خو د حمل په لومړیو ترایمستر کې بهتره ده چې استعمال څخه ډډه وشي.

Peprazin : ۷۵ mg ملي ګرام د بدن په هر کیلو ګرام وزن ورکول کېږي لوړه اندازه یې ۳.۵ gr ده دوه پرله پسې دوزونه د ورځې توصیه کېږي، که چیرې چینجیانو شمېر زیات وي نو دوز یې تر ۴ ورځو یا د ۲ ورځو کورس یې یوه اوونۍ وروسته هم تکرارېږي.

جانبي عوارض: معدې معایې ګیلي او سردرد کله کله رامنځته کېږي د مرکزي عصبي سیستم ګیلي لکه (Temporal Ataxia) او د اختلاج زیاتوالی نادر دی.

مضاد استطباب: دا دوا ځیګر او د پښتورګو په عدم کفایه او هغه ناروغان چې اختلاج او ځنډنی عصبي ناروغي ولري نه ورکول کېږي.

جراحي درملنه: د هضمي سیستم په اختلاطي واقعاتو لکه (Intestinal Obstruction) او Appendicitis کې عاجل راحي مداخلې ته ضرورت شته.

مخنیوي: څرنګه چې دغه ناروغي سببي عامل د خولې له لارې اخیستل کېږي بنأ لاندیني وقایوي اهتماماتو ته باید ځانګړې پاملرنه وشي.

--> د رفع حاجت څخه وروسته او د خوراک څخه مخکې باید لاسونه په صابون ومینځل شي،(ماشومانو ته د لاس مینځلو طریقه باید وښودل شي او همدارنګه د والدینو تر نظارت لاندې وي) خام یا نیمه پاخه خواړه باید استعمال نه شي همدارنګه د اوبو منبع باید پاکې وي.

څرنګه چې د نوموړي چینجي هګۍ په خاورو کې وي نو ماشومانو ته توصیه کېږي چې لوڅې پښې ونه ګرځي او په خاورو کې د لوبو کولو څخه منع شي کثافات د یو خاص صحي سیستم په واسطه ځاي پر ځای شي.

Community Chemotherapy : خلکو ته باید (خصوصآ د مکتب شاګردانو ته) البینډرال ۴۰۰ ملي ګرام د خولې له لارې توصیه کېږي.

یادونه: څرنګه چې د تداوی څخه وروسته بیا ځلې منتن کیدل معمول دی بنأ نوموړې دوا هر ۳ میاشتې بعد د څو دورو لپاره په ماشومانو کې تکرار شي.

ماخذونه:


--> Current Medical Daignosis and treatment.

--> Harrison s Principal of internal Medicine.

## د تازه مېوو روغتیايي ګټې

مڼه:

مڼه د سامعې سیستم، د معدې ستونزې، کم خوني، د زړه ناروغۍ، روماتېزم او ډېرو نورو ناروغیو په مخنیوي کې رغنده رول لري.

د مڼې غذايي ارزښت:

مڼه له ویټامینونو، معدني موادو او مغذي عناصرو څخه ډکه مېوه ده. ویټامین C، ویټامین K، ویټامین B6 او ریبوفلاوین هغه ویټامینونه دي، چې په کې شته. همدارنګه پوټاشیم، مِس او میګنیزیم ګټور معدني مواد دي، چې مڼه يې لري. مڼه له فایبرو څخه هم ډکه ده. د ورځې یوه مڼه خوړل مو د فیبر ۱۲ سلنه اړتیا پوره کوي.

هضم:

مڼه له فیبر څخه ډکه مېوه ده، چې د خوړو په هضم کې د پام وړ مرسته کوي. د مڼې منظم خوراک مو د کولمو روغتیا هم تضمینوي او د معدې د اختلالاتو مخه نیسي. همدارنګه له خوړو څخه د ترلاسه شویو غذايي توکو په ښه جذب کې هم مرسته کوي.

له سرطان څخه مخنیوی:

څېړنې ښيي، چې مڼې د سرطان په مخنیوي کې اغېزمن رول لري.

د وینې کمښت:

دا چې مڼې په کا في اندازه اوسپنه لري، نو د وینې د کمښت مخنیوي لپاره ګټور دي. په ټوله کې د وینې د کمښت ستونزه په وینه کې د هیموګلوبین د کموالي له امله منځته راځي، چې دا ستونزه له غذايي موادو څخه د اوسپنې د ترلاسه کولو له لارې حل کېدای شي.

د غاښونو روغتیا:

د مڼې خوړل مو د غاښونو په پاکوالي کې مرسته کوي، چې دا کار ستاسو غاښونه له چینجن کېدو ژغوري. په مڼه کې شته فیبر ستاسو غاښونه پاک ساتي او شته میکروبونه هم له منځه وړي.

د زړه ناروغۍ:

مڼه په بدن کې شته کلسترول کموي، چې دا کړنه د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي. د ورځې یوه مڼه خوړل مو تر یوه بریده د زړه د روغتیا تضمین کوي.

په مڼو کې د کویرستین په نوم فلاونویدونو شته، چې دغه مواد هم د زړه د روغتیا په برخه کې د پام وړ رول لوبوي.



## مالټه:

### د وینې غوړ کموي:

مالټه په بدن کې د کلسترول کچه ټیټوي. یاده مېوه د نورو موادو ترڅنګ فیبر هم لري، چې فایبر په بدن کې د وینې د غوړ په کمښت کې رغنده رول لوبوي.

### د زړه روغتیا تضمینوي:

مالټه له پوتاشیم څخه ډکه مېوه ده. دغه ماده ستاسو د زړه روغتیا تضمینوي. ځکه چې پوتاشیم د زړه د ښه فعالیت لپاره ګټور معدني مواد لري.

### د بدن دفاعي ځواک پیاوړی کوي:

مالټه مو په ناروغیو د اخته کېدو څخه ژغوري. دا چې مالټه په ډېره پیمانه ویټامین سي لري او یاده ماده د آزادو رادیکالونو د خنثی کولو په ترڅ کې د سلولونو حفاظت کوي، نو دا فعالیت تاسو د ناروغیو پر وړاندې پیاوړي کوي د بدن دفاعي ځواک ته مو قوت وربخښي.

### د سترګو روغتیا:

مالټه له کارتنوئید څخه ډکه مېوه ده، دغه ماده وروسته بدلېږي، چې یاد ویټامین ستاسو د سترګو A پر ویټامین لپاره مهم دي. همدارنګه ویټامین ای د سترګو دید ته قوت ورکوي.

### د وینې فشار:

د مالټې خوړل ستاسو د وینې د فشار په تنظیم کې ډېره مرسته کوي. په دې مېوه کې د فلاونوئید هسپریدین په نوم ماده شتون لري، چې ستاسو د وینې فشار ډېر نورمال او منظم ساتي.

### د پوستکي روغتیا:

په مالټو کې د بتاکاروتن په نوم قوي انټی اکسیدان شتون لري، چې یاد آنټي اکسیدان د آزادو راډیکالونو پر وړاندې د بدن د پوستکي حفاظت کوي. په دې توګه ستاسو د ژر زړښت مخه هم نیسي او د پوستکي په روښانتیا کې هم مرسته کولای شي.

### د وزن کمښت:

مالټه مرسته کوي، چې ستاسو وزن کم شي. دغه مېوه کمه کالوري انرژي لري او له فیبرو څخه ډکه ده. کله چې



تاسو مالټه خورئ تر یوه وخته د مړښت احساس کوئ او له ډېر خوراک څخه پاتې کېږئ.

### د هډوکو پیاوړتیا:

مالټه په پرېمانه کچه کلسیم لري، او کلسیم ستاسو د هډوکو پیاوړتیا کې حیاتي رول لري. که تاسو په مناسبه اندازه مالټه وخورئ هډوکي به مو پیاوړي شي.

### مالټه له فایبر څخه ډکه ده:

هره ورځ یوه مالټه مو د بدن د اړتیا ۱۲% پوره کوي. ستاسو بدن باید د خپل اړتیا وړ مواد پوره کړي او که نا له روغتیايي ستونزو سره مخ کېږئ.

### د خولې بد بويي:

په چای کې د مالټو پوټکي کارول، تاسو سره مرسته کوي چې د غاښونو روغتیا مو وساتي. همدارنګه د یوې میاشتې لپاره هره ورځ د مالټو یو ګیلاس چای څښل ستاسو د خولې بد بويي په کامله توګه له منځه وړي.

### د شکر د کچې کنټرول:

مالټه د طبیعي شکر څخه غني ده، مګر د ټیټ ګلیسمیک شاخص درلودو له امله دا د شکر په کچه کموالی کې مرسته کوي.



## د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ مهمې ناستې

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د (UNDP) سازمان له مشر، ښاغلي سټيفن روډريک سره وکتل.

په دې ليدنه کې د روغتيايي مرکزونو لپاره د لمريزې برېښنا سيسټم جوړولو پر همغږۍ، د مراکزو د انتخاب پر څرنګوالي، د ملاريا، توبرکلوز او ايچ آی وي ناروغيو د مخنيوي، د اړوندو روغتيايي خدماتو د بيا کتنې او شفافيت په اړه بحث او خبرې ترسره شوې.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ياد سازمان له همکارۍ څخه په مننې د لرې پرتو سيمو لپاره د روغتيايي خدماتو، د اړمنو سيمو او روغتيايي مرکزونو لپاره د لمريزې برېښنا سيسټم جوړولو او د ساري ناروغيو په کنټرول کې د يو اين ډي پي همکاري او همغږي اړينه وګڼله او په ټولو خدماتو کې يې د شفافيت او حساب ورکوونې اصل په نظر کې نيولو سره د خدماتو وړاندې کول اغېزمن وبلل.

دغه راز، د يو اين ډي پي سازمان مشر شفافيت او حساب ورکوونه خپل لومړيتوب وباله او په وينا يې د افغانستان روغتيايي سيسټم سره به په دوامداره توګه همکار اوسي.

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د وګړو صندوق (UNFPA) سازمان له مشر کوابينا اسانتي او د دې سازمان له اجراييوي معاون او سرمنشي مرستيال انډريو سابرټن سره ليدنه ترسره کړه.

په دې ليدنه کې افغانستان کې د روغتيايي سيسټم د پياوړتيا، د اړتيا پر ځای د دوامداره مالي ملاتړ، روغتيا برخه کې د مرستو په غوره مديريت، روغتيايي ځالو پر زياتوالي، د ګرځنده ټيمونو په مؤثريت او پر ثابت مرکزونو بدلولو، د عامې روغتيا وزارت د پاليسۍ سره سم د روغتيايي خدماتو وړاندې کولو او د لومړيتوبونو په اساس د خدماتو تر سره کولو اړوند بحث او خبرې ترسره شوې. د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د خپلې وينا په ترڅ کې د روغتيايي خدماتو د لا مؤثريت او مثمريت په موخه شفافيت او د روغتيا وزارت لومړيتوبونو ته پاملرنه اړينه ياده کړه او د عامې روغتيا وزارت د ملي پاليسۍ اړوند يې د روغتيايي خدماتو په وړاندې کولو او د نړيوالو له لورې د شته مرستو په غوره مديريت ټينګار وکړ. بل لور د (UNFPA) سازمان مرستيال، روغتيايي برخه کې پر شفافيت خوښي څرګنده او د افغانستان روغتيايي سيسټم سره يې مرستې اړينې وګڼلې چې په همدې موخه يې د مرستو را جلبولو ژمنه وکړه.

دوام:

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د روغتيا نړيوال سازمان له مشر ايډوين سينيزا سلاوډر، د روغتيا نړيوال سازمان د افغانستان د پوليو ټيم له مشر منديپ راټې او د روغتيايي سکټور اړوند مسئولينو سره ليدنه ترسره کړه.

په دې ليدنه کې په افغانستان کې د روغتيا نړيوال سازمان له لوري د تر سره شويو خدماتو، د روغتيا په برخه کې د شته ستونزو حل، روغتيايي سيستم د پياوړتيا، روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړونې، پوليو ناروغۍ د محوه کولو، د سرطان ناروغيو جوړېدونکي روغتون لپاره د وسايلو برابرولو، د روغتيا نړيوال سازمان له لوري هېواد کې د انتاني ناروغيو د درملنې روغتونونو پر ملاتړ، د تطبيق کوونکو مؤسساتو د خدماتو پر کيفيت او انتخاب او د روغتيا په برخه کې د نړيوالو مرستو د جلب اړوند بحث او خبرې وشوې.

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي له نړيوالو همکارانو سره په ګډه د ولسونو اړتياوو ته په کتو د روغتيايي خدماتو پر پياوړي کولو، په معياري توګه د ناروغانو ستونزو ته د رسېدنې او شته ستونزو د حل په موخه د دوه اړخيزه هڅو يادونه وکړه او ويې ويل، د هغه ټولو ستونزو د حل لپاره بايد کار وکړو، چې د روغتيايي سيستم د پراختيا او پياوړتيا لامل ګرځي.

ښاغلي وزير همداراز، د روغتيايي خدماتو پر پراختيا، د سرطان ناروغانو د درملنې روغتون لپاره پر تجهيزاتو او په هېواد کې د انتاني روغتونونو، چې نږدې ۳۵۰ بستره کېږي د خدماتو پر ملاتړ خبرې ترسره او له پوليو او ټولو ساري ناروغيو سره مبارزه يې د روغتيا وزارت د کاري ساحې برخه وګڼله او په وينا يې د ساري ناروغيو سره د مبارزې لپاره اړينه ده، چې د روغتيايي سيستم پر کيفيت او ښه والي لا کار وکړو.

بل لور د افغانستان لپاره د روغتيا نړيوال سازمان او پوليو د محوې ټيم مشرانو خپلو دوامداره همکاريو ته په اشارې د روغتيا برخې د پياوړي کولو، مرستو جلب او يو شمېر نورو برخو کې د همکارۍ ډاډ ځرګند کړ.

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزير ښاغلي، مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د بې سرحده ډاکټرانو بنسټ له مشر ميکايل ليپي سره ليدنه ترسره کړه.

په دې ليدنه کې چې د افغانستان لپاره د بې سرحده ډاکټرانو مشر او استازو يې ګډون کړی و، په هېواد کې د بې سرحده ډاکټرانو اړوند روغتيايي مرکزونو او روغتيايي خدمتونو د لا ښه والي، د روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو، په خدماتو کې روڼتيا، د عامې روغتيا وزارت سره پر لا ښې همغږۍ او د داومداره مؤثرو خدماتو په اړه خبرې وشوې. ښاغلي وزير، له روغتيايي سکټور سره د يادې ټولنې لخوا د مرستو زياتوالی او پراختيا اړينه وګڼله او په دې برخه کې يې د خدماتو د لا پراختيا غوښتنې ترڅنګ، د روغتيايي کارکوونکو پر ظرفيت لوړونې، د خدماتو پر کيفيت، مؤثريت او شفافيت ټينګار وکړ. دغه راز، په ياده ليدنه کې د بې سرحده ډاکټرانو مشر ښاغلي ميکايل ليپي هم په افغانستان کې د روغتيايي خدمتونو د لا ښه کېدو او دې برخې ته د لا زيات پراختيا ورکولو ژمنه وکړه او د خدماتو پر کيفيت او همغږۍ يې ټينګار وکړ.

همدارنګه، ښاغلي ليپي په هرات، کندز او هلمند کې د خدماتو پر دوامداره ساتلو خبرې وکړې او زياته يې کړه، چې ياد مرکزونه به د عامې روغتيا وزارت سره په همغږۍ فعال وساتي.

د ا.ا.ا د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د ياد وزارت د غونډو په تالار کې د ازبکستان له سفير، اويبيک عثمانوف او مل پلاوي سره وکتل.

په دې کتنه کې افغانستان ته د ازبکستان هېواد څخه د با کيفيته درملو، طبي او خوراکي توکو واردولو، د لابراتواري ازموينو د پايلو شريکولو، افغانستان څخه د يو شمېر توکو د صادرولو او روغتيا برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د لا زياتې همکارۍ او همغږۍ اړوند بحث او خبرې ترسره شوې بل لور ازبکستاني پلاوي روغتيا برخه کې په دوه اړخيزو اړيکو خوښي څرګنده او په يادو برخو کې يې د همکارۍ ژمنه وکړه.

## امراض دایورتیکولر کولون
## Diverticular Disease of the Colon

رنئورووال دوکتور وحیدالله فرملی

خلاصه:

شامل دایورتیکلوزو دایورتیکولیت میباشد این امراض بیشتر در افراد مسن ودر جوامع با رژیم غذایی کم فایبر دیده میشوند.

دایورتیکلوز اغلب بدون علایم است در حالی که دایورتیکولیت با اعراض وعلایم مانند درد بطن ، تب وتغییردر ترانزیت معایی ظاهر میشود. تشخیص معمولا با سی تی. اسکن صورت میگیرد. وقایه دایورتیکلوز شامل رژیم غذایی پرفایبرو وقایه از قبضیت است.

دایورتیکولیت خفیف با انتی بیوتیک از طریق فمی تداوی میشود وموارد شدید نیاز به بستر شدن وتداوی با انتی بیوتیک از طریق وریدی وگاهی جراحی دارد.

مقدمه:

دایورتیکلوز ودایورتیکولیت از جمله شایع ترین امراض کولون در جوامع صنعتی استند این امر ناشی از ایجاد دایورتیکول در جدار کولون میباشد که میتواند بدون اعراض وعلایم باقی بماند یا دچار التهاب گردد.

تعریفات:

دایورتیکلوز: وجود دایورتیکول ها در کولون بدون علایم التهابی.

دایورتیکولیت: التهاب دایورتیکول ها که منجر به علایم چون درد وتب میگردد.

ایپدمیولوژی:

شیوع دایورتیکول با افزایش سن زیاد میگردد حدود ٥٠ ٪ افراد بالای ٦٠ سال مبتلا میشوند. در کشور های غربی بیشتر در کولون سگموویید دیده میشود. در کشور های آسیایی شیوع کمتری دارد وبیشتر در کولون راست دیده میشود.

پتوفزیولوژی:

عبارت از هیپرتروفی وضخیم شدن طبقه عضلی همراه با تضیق بیش رونده کولون وافزایش فشار داخل میباشد. که سبب یک فتق مخاطی در کنار تینیا درا قسمت انتی میزانتریک میشود. این پتولوژی در کولون سگموویید معمول میباشد.

ویژه گی های امراض دایورتیکولر:

در جوامع غربی ٥٠٪ در نزد افراد بالتر از ٦٠ سال تاسس می نماید تنها ١٥٪ از مریضان مصاب دایورتیکلوز، دایورتیکولیت تاسس می نماید ٧٥٪ از مریضان دایورتیکولیت بدون اختلاط میباشند ونزد ٢٥٪ مریضان اختلاطات مانند. آبسه، تثقب تضیق وفستولا تاسیس می نماید.

آبسه بیشتر در ناحیه پری کولیک ، حوصله ونادرا در ناحیه الیوی واسکیورکتل تاسیس میکند.

اعراض وعلایم کلینیکی:

-->دایورتیکلوز ساده : یعنی بدون التهاب بدون اعراض وعلایم میباشد گاهی ازبری بطن ،درد مبهم وخفیف بطن نفخ وباد، قبضیت یا اسهال متناوب واحساس ناراحتی میباشد.

دایورتیکولیت حاد : عبارت از درد در حفره حرقفی طرف چپ بوده که میتواند به خلف وناحیه مغبنی انتشار نماید، قبضیت یا اسهال ، دلبدی واستفراغ مواد غایطه خون دار، بعضا خون ریزی کتلوی ، تب ریجیدیتی وکتله در حفره حرقفی طرف چپ که این کتله معمولا درد ناک ،حساس ریزونانس و غیر متحرک می باشد.

-->علایم در موارد پیش رفته پریتونیت منتشر ، درد شدید بطن شخی بطن ، تب شدید.

-->علایم انسداد معایی : دلبدی واستفراغ وتوقف ترانزیت معایی در صورت تشکل فستولای کولوویزیکل التهاب مکرر طرق بولی.

: Investigation

باریم انیما:

بهترین میتود تشخیصیه بوده که علامه دندانه اره را نشان میدهد.چمبن گلاس ساین پرشدن قسمی دایورتیکول توسط بازیم همراه با ستر کولیت در دایورتیکول های کولون سیگموویید.

ادامه:

سگموييد سكوپی:

یک معاینه مفید بوده اما در مرحله حاد اجرا شده نمیتواند زمانیکه مرحله حاد فروکش نماید سگموييد سكوپی كولون سكوبی وباريم انيما اجرا شده میتواند.

سی تی:

در مرحله حاد بری کولیک آبسه ، ضخامت طبقه عضلی آبسه ها ، تثقب ، فستولا ودر گیر شدن سایر احشا مانند مثانه و پتولوژی های مرتبط به آن توسط این معاینه دیده شده می تواند.

تشخیص:

توسط تاریخچه معاينات فزیکی ومعاينات متممه صورت میگیرد.

تشخیص تفریقی:

کارسینومای کولون سگموييد، امیبیک کولایتس، السراتیو کولایتس ، اسکیمیک کولایتس و مرض کرون توبرکلوزس موجودیت کارسینوما ودايورتيكولا يتس توام با یکدیگر در ۱۲٪ واقعات دیده شده است.

اختلاطات:

تثقب وآبسه بری کولیک وبری توناپتس تضیق بیش رونده وانسداد معایی خون ریزی کولونی ۱۷-۲۰ ٪، تشکل فستولا ۵٪ فستولای ویزیکوکولیک وجینوکولیک انتروکولیک وکولوکوتانیس.

Hinchey' s classification of diverticulitis

Stage I: pericoliv or mesenteric abscess

Stage II: walled off pelvic abscess

Stage III: Genralised purelent peritonitis

Stage IV: Genralised faecal peritonitis

تداوی ، تداوی طبی ،رژيم غذایی غنی از فایبر انتی بیوتیک مسهلات ، جلوگیری از قبضیت ،تعقیب منظم ودوامدار از پیشرفت مرض وشروع اختلاطات،درېناژ آبسه تحت رهنمایی سی تی وگذاشتن تیوب ، از طریق جلد ، در مرحله حاد تداوی محافظه کارانه مانند استراحت امعا، انتی سپزموديک ها وانتی بیوتیک ها توصیه میشود.

تداوی جراحی:

عبارت از رزکشن یا برداشتن کولون سگموييد وانستوموز كولوركتل میباشد.

اگر کولون از مواد غایطه مملو باشد ابتدا کولوستومی کولون مستعرض اجرا شده بعدا رزکشن وانستوموزس اجرا میگردد. در واقعات که تثقب رخ داده باشد کولوستومی قريبه واكستروايزيشن قسمت متاثر شده امعا صورت میگیرد بعدا رزکشن وانستوموزس صورت میگیرد درین حالت ریت مرگ ومیر بلند است.

معمولا پروسیجر هارتمن همراه با سگموييدكتومی ، اند کولوستومی وبسته نمودن ستمب رکتم بهتر ومحافظه کننده حیات می میباشد .

فستول ها تداوی میگردند به واسطه رزکشن قسمت مرضی کولون و بسته نمودن فستول توسط دايورشن پروسیچر مانند کولوستومی، سیستوستومی ویورتروستومی ، در واقعات دایورتیکولوزس یک شق طولانی بالای تینیا وطبقه عضلی بدون باز شدن طبقه مخاطی کفایت مینماید مانند بروسیچر رمستيد وهیلر که به نام ریلایز سیگموید و میوتومی یاد میگردد.

نتیجه گیری:

امراض دایورتیکولر کواون یکی از مشکلات مهم جهاز هاضمه است که با در نظر داشت افزایش سن شیوع آن در حال افزایش است . تشخیص به موقع درمان مناسب وتدابير وقايوی میتواند از بروز اختلاطات شدید جلوگیری کند.

Refrences:


1. Zinnwr MJ, Asley SW,Mangot's Abdominal Operations, 13th ed New York: McGraw- Hill Education 2019, P 483-495
2. 2. Cameron JL, Cameron AM, Current Surgical Therapy. 14thd, Philadelphia; Elesvier; 2019. P: 962-970
3. 3. Fedman m, Fnedman LS,Brandt LJ.Sleisengeand Fordtrav's Gastrointestinal and Liver Disease: 11th ed. Philadelphia: Elsevier; 2020. P; 2349-2358




## ولايتي سفرونه

### هرات ولایت ته د عامې روغتیا وزیر سفر

د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي هرات ولایت ته د سفر په ترڅ کې د هرات ولایت د عامې روغتیا له رئیس، روغتیایي کارکوونکو، د نړیوالو ادارو له استازو او تطبیق کوونکې مؤسسې له مسؤلینو سره ګډه ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې د هرات ولایت د عامې روغتیا رئیس مولوي محمد طالب شاهد، د یاد ریاست مرستیال ډاکټر حنیفي او د نړیوالو اداراو استازو خپلې ویناوې واورولې او د هرات عامې روغتیا مرستیال د دې ولایت د روغتیایي خدماتو اړوند مفصل معلومات وړاندې کړل.

د عامې روغتیا وزیر، د خپلو خبرو په ترڅ کې روغتیایي کارکوونکو ته د روغتیایي خدماتو د کیفیت ښه والي اړوند لازمې سپارښتنې ترسره او له هغوی یې وغوښتل، چې ناروغانو سره د ښه چلند سربېره د هغوی روغتیایي ستونزو ته بشپړه رسېدنه وکړي.

ښاغلي وزیر همداراز، د خپلې وینا په ترڅ کې د تطبیق کوونکې مؤسسې او نړیوالو ادارو له استازو د شفافیت او اړتیا پر مهال روغتیا سکټور سره د همکارۍ اړوند خبرې شریکې کړې.

د غونډې په پای کې د هرات ولایت روغتیایي مسؤلینو او د نړیوالو روغتیایي ادارو استازو د خپلې ژمنتیا څرګندونې ترڅنګ شریکو شویو سپارښتنو ته د بشپړې پاملرنې ډاډ ورکړ. عامې روغتیا وزیر، دغه راز هرات ولایت ته د رسمي سفر په ترڅ کې د دې ولایت د مخورو او افغان سوداګرو په مرسته د جوړ شوي تلسیمیا روغتون پرانیسته ترسره کړه. د پرانیستې په دغه مراسمو کې د هرات والي، شیخ نور احمد اسلام جار او د ایران، ترکیې او ترکمنستان هېواد سفارتي استازو شتون درلود.

یاد تعمیر چې د تلسیمیا ماشومانو لپاره د هرات ولایت د مقام او عامې روغتیا ریاست سره په همغږۍ جوړ شوی، ځانګړی روغتون دی، چې پر تلسیمیا اخته ماشومانو لپاره به په کې خدمات وړاندې کېږي.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د هرات د مخورو حضراتو او سوداګرو قرباني بې سارې وګڼله او دا کړنه یې د تلسیمیا بې وسه ماشومانو درملنې برخه کې ستره لاسته راوړنه یاده کړه.

د عامې روغتیا وزیر همداراز، د هېواد له نورو سوداګرو هم هیله وکړه، چې همدارنګه یو بل ته په لاس ورکولو سره ولسونو ته غوره روغتیايي خدمات وړاندې کړو، هغه وویل: (هڅه کوو چې له داخلي بودجې څخه روغتیايي خدمات وړاندې کړو، همداراز که یو څوک غواړي چې دې برخه کې پانګونه وکړي، موږ ژمن یو چې اسانتیاوې ورته برابرې کړو).په دې مراسمو کې دغه راز، د یاد روغتون جوړونکو له لوري هم خبرې ترسره او وویل شو، چې په دې برخه کې به د روغتیا وزارت سره په ګډه همغږی کار کوي او د دغه روغتون لپاره به د تجهیزاتو برابرولو کې لا زیاتې هڅې کوي. ورته مهال عامې روغتیا وزیر، هرات ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د سترګو ناروغیو د درملنې تازه رغول شوي روغتون (نور د سترګـو درمـلـنې تخصصي روغتون) څخه لیدنه وکړه.

په دغه لیدنه کې چې د هرات والي، نور احمد اسلام جار او د عامې روغتیا وزارت څخه راغلي پلاوي شتون درلود، ښاغلي وزیر په یاد روغتون کې د یوې نوې عملیات خونې او د دغـه روغـتـون د بیا رغـونـې تـرسره شویو چـارو پرانیسته ترسره کړه.

همدا شان عامې روغتیا وزیر هرات ولایت ته د سفر په ترڅ کې د یو افغان سوداګر، حاجي عبدالظاهر بشري له لوري د جـوړېدونـکـي ۴۰۰ بسـتریـز کـوچنیانو ځانګـړي روغـتـون د جوړېدو بنسټ ډبره کېښوده.

د عامې روغتیا وزیر، د هېواد رغونې برخه کې د هرات د خلکو ونډه وستایله او د دې ولایت اوسېدونکي یې با فرهنګه، غیور او پوه خلک یاد کړل، د پانګونې لپاره یې له بل هر وخت د ښو فرصتونو څخه یادونه وکړه او د امیرالمؤمنین حفظه الله پر مهربانۍ او پر ملت دردېدلو یې خبرې وکړې، چې موخه یې د ملت لپاره هوساینه او د ټپونو مرهم دی.

ښـاغـلـي وزیر دغـه راز، د هـرات تاریـخـي اهـمـیت او د یاد ولایت د اوسـېدونـکـي حـاجـي عبدالظاهر بـشري له لـوري جوړېدونکي روغتون ته په اشارې سره وویل: الله تعالی دې دوی ته اجر ورکړي، چې د روغتیا برخه یې دومره ستر اقـدام کـړی او پاک رب دې نـورو افـغـان سوداګـرو ته هم وس او توان ورکړي، چې داسې سترې پروژې تطبیق کړي.



دوام:

## بادغیس ولایت ته د عامې روغتیا وزیر سفر

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي بادغیس ته د سفر پرمهال دې ولایت کې له روغتیایي کارکوونکو، د خصوصي سکټور، تطبیق کوونکې مؤسسې مسئولینو او قومي مشرانو سره ګډه ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې د عامې روغتیا وزیر، د بادغیس والي حافظ محمد امین جان عمري، د یاد ولایت د عامې روغتیا رئیس مولوي خان محمد همت، د روغتیا وزارت مرکزي رئیسانو، د خصوصي سکټور، تطبیق کوونکې مؤسسې مسئولینو او قومي مشرانو ګډون کړی و. د یاد ولایت روغتیایي مسئولینو، د عامې روغتیا له وزیر سره د دغه ولایت روغتیایي برخه کې شته ستونزې، وړاندیزونه او غوښتنې چې په کې د نویو روغتونونو جوړول، د کارکوونکو زیاتوالی، د اکمال تخصص برنامې پیل او نور شامل وو، شریک کړل. د عامې روغتیا وزیر، د روغتیایي مسؤلینو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او ویې ویل: پخوا دې ولایت کې روغتیایي برخه د مسئولینو له لورې له پامه غورځول شوې وه، چې له دې وروسته به ورته ځانګړې پاملرنه کېږي. ورته مهال عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي بادغیس ته د سفر پرمهال دغه ولایت کې په لومړي ځل د پیلېدونکي دولتي روغتیایي علومو انسټېټیوټ پرانیسته ترسره کړه. عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي بادغیس ولایت کې د دولتي روغتیایي علومو انسټېټیوټ جوړېدل لویه لاسته راوړنه وبلله او دا یې یاد ولایت کې د نیمه روغتیایي زده کړو برخه کې د شته تشې ډکول او په دې برخه کې د ستونزو له منځه وړل یاد کړل. ښاغلي وزیر زیاته کړه: ( د دې روغتیایي علومو انسټېټیوټ تشکیلاتي جوړښت تکمیل شوی او مناسب ځای ورته ځانګړی شوی، چې په مرسته به یې د یاد ولایت سلګونه زده کړیالان په ځلورو بېلابېلو څانګو کې خپلې زده کړې ترسره کوي. د بادغیس ځایي اوسېدونکو د عامې روغتیا وزارت له ورغلي پلاوي څخه د مننې تر څنګ روغتیا برخې سره د نورو همکاریو غوښتنه وکړه، چې د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ له لوري ورته د پاملرنې ډاډ ورکړل شو. عامې روغتیا وزیر دغه راز بادغیس ولایت ته د سفر په ترڅ کې د ولایتي روغتون د خدمتونو له بهیر څخه لیدنه ترسره کړه.

عامې روغتیا وزیر، د روغتیایي کارکوونکو د ترسره کړو خدمتونو ستاینه وکړه، د مل تخنیکي ټیم له لوري په نښه شویو ستونزو اړوند یې ورته لازمې سپارښتنې وکړې؛ ترڅو هېوادوالو ته روغتیایي خدمتونه د خپل مسؤلیت په اساس وړاندې کړي. ښاغلي وزیر، دغه راز د یاد روغتون د مسؤلینو او روغتیایي کارکوونکو وړاندیزونه واورېدل او شته امکاناتو ته په کتو یې د رسېدنې ډاډ ورکړ، چې ورسره به د دغه روغتون خدمتونه لا معیاري او پراخ شي.

## ننګرهار ولایت ته د عامې روغتیا وزیر سفر

د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي ننګرهار ولایت ته د خپل رسمي سفر پر مهال د سرطاني ناروغیو د درملنې پنځوس بستریز روغتون، د جدي مراقبت نوي جوړ شوي لس بستره واحد او په بي بي فاطمة الزهرا ولایتي روغتون کې د (OPD) نوې جوړې شوې ودانۍ پرانیسته تر سره کړه.

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې چې د ننګرهار مرستیال والي مولوي عزیز الله مصطفی، د عامې روغتیا رئیس مولوي آمین الله شریف، د علماو شورا رئیس شیخ حضرت جان حنفي او یو شمېر نورو مسؤلینو شتون درلود، د عامې روغتیا وزیر د خپلې وینا پر مهال وویل: ( د روغتیا برخې د خدماتو د کیفیت ښه والي او پراخوالي لپاره به خپلې هڅې جاري ساتي او په نږدې راتلونکي کې به د ډېرو لویو لاسته راوړنو او پرانیستو شاهدان یو ) دغه راز، ښاغلي وزیر په خپله وینا کې د روغتیایي کارکوونکو د معاشونو زیاتوالي، د لازمو طبي وسایلو برابرولو او د روزنیزو پروګرامونو جوړولو ډاډ هم څرګند کړ؛ ترڅو شته ستونزې حل او خلکو ته پر وخت، معیاري او باکیفیته روغتیایي خدمات وړاندې شي.

د یادونې وړ ده، چې د ننګرهار سیمه ییز روغتون د (ICU) څانګې د بسترونو شمېر له لسو څخه شلو ته لوړ شو، چې

په دې سره به د ببړنیو او جدي ناروغانو د بستر او درملنې ظرفیت پیاوړی او د ببړنیو خدماتو په وړاندې کولو کې به ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي.

د غونډې پر مهال د ننګرهار مسؤلینو او روغتیایي کارکوونکو له پیل شویو خدماتو خوښي څرګنده کړه او د عامې روغتیا وزارت صادقانه هڅې یې وستایلې، همدارنګه نوموړو خپلې اړونده غوښتنې د عامې روغتیا له وزیر سره شریکې کړې، چې ښاغلي وزیر په ټولو برخو کې د بشپړې همکارۍ او هڅو ډاډ ورکړ.

دغه راز د عامې روغتیا وزیر ننګرهار ته د سفر په ترڅ کې د ختیځ روغتیایي کمپلکس له رغنیزو چارو او د روږدو درملنې ۱۷۰ بستریز روغتون څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې چې د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف او یو شمېر نورو مسؤلینو یې هم ملتیا کوله، د عامې روغتیا وزیر وویل: د ساختمان برخې مسؤلینو ته لارښوونه شوې، چې د ختیځ کمپلکس د چارو چټکتیا په موخه هڅې لا ګړندۍ کړي او زیاته یې کړه،دغه کمپلکس د ختیځ ولسونو لپاره ځانګړی ارزښت لري، چې ژر به یې چارې بشپړې او د ناروغانو په درملنه کې به ځانګړی رول ادا کړي.

همدا شان ښاغلي وزیر، د روږدو درملنې ۱۷۰ بستریز روغتون کې په ترسره شویو رغنیزو چارو خوښي څرګنده او مسؤلینو ته یې د لا غوره خدمتونو وړاندې کولو په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

عامې روغتیا وزیر، ننګرهار ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت د عامې روغتیا له ریاست څخه لیدنه وکړه په دغه لیدنه کې ښاغلي وزیر سره د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس، په بېلابېلو روغتیایي برخو کې د ترسره شویو خدماتو، د مراجعینو لپاره د یو لوی جوړ شوي پارک، د ریاست په داخل کې د رغنیزو چارو او یو لوی مسجد د جوړېدو په اړه معلومات شریک کړل.

د عامې روغتیا ښاغلي وزیر په یادو ترسره شویو رغنیزو چارو خوښي وښوده او د عامې روغتیا رئیس ته یې لارښوونه وکړه، چې ناروغانو او مراجعینو ته د لا زیاتو اسانتیاوو برابرولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.



دوام:

## کونړ ولایت ته د عامې روغتیا وزیر سفر!

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د کونړ ولایتي روغتون څخه د لیدنې پر مهال د توبرکلوز ناروغیو د ښه تشخیص په موخه د جین ایکسپرټ خدماتو پرانسته وکړه.

په دې لیدنه کې چې ښاغلي وزیر له ناروغانو او اړونده مراجعینو سره له نږدې ولیدل، د خدماتو اړوند یې مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

ښاغلي وزیر د پرانیستې پر مهال وویل، هڅه یې دا ده چې ټولو هغو اړوندو برخو کې خدمات پراخ کړي چې ولسونه ورته اړتیا لري او په همدې موخه له بېلا بېلو لارو هڅې کوي، تر څو خدمات پراخ او خلک ورته هر اړخیز لاسرسی ولري. د یادونې ده چې دا څانګه د نږدې ۷۲ زره امریکایي ډالرو په لګښت فعاله شوه. ورته مهال د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي کونړ ولایت ته د خپل رسمي سفر پر مهال د ولایتي دوه سوه بستریز روغتون د تعمیراتي چارو بیا ځلي پیل پرانیسته تر سره کړه د یادې پرانیستې پر مهال، چې د کونړ ولایت والي ښاغلي مولوي قدرت الله ابوحمزه، د دې ولایت د عامې روغتیا رئیس قاري مظفر خان مخلص او د کونړ ولایت یو شمېر مسؤلینو، قومي مخورو او علماء کرامو شتون درلود، بېلا بېلو مسؤلینو د یاد روغتون د چارو د بیا ځلي پیل اړوند ویناوې تر سره کړې. د دې روغتون تعمیر چې چارې یې نیمګړې پاتې وې، د اسلامي امارت په داخلي بودیجه د نږدې(۲۷۸) میلیونه افغانیو په لګښت سره به یې پاتې چارې بشپړې شي.

ښاغلي وزیر دغه راز د کنړ ولایت په تیشې سیمه کې د ۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یو ابتدایي روغتیایي مرکز د جوړ شوي تعمیر پرانیسته تر سره کړه:

یاد کلینیک چې د کونړ اوسېدونکي ډاکټر عبدالرحمن زماني په مالي مرسته جوړ شوی؛ څه موده وړاندې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي یې د بنسټ ډبره ایښې وه او په لږه موده کې یې چارې بشپړې او د روغتیایي خدماتو بهیر په کې پیل شو.

ښاغلي وزیر د یادې پرانیستې پر مهال وویل: (له نېکه مرغه چې نن ورځ د دې روغتیایي مرکز د تعمیر د پرانیستې شاهدان یو، چې دا به د ولسونو لپاره خورا ګټور ثابت شي).

ښاغلي وزیر وویل، هڅه یې د متوازنو روغتیایي خدماتو پراختیا ده چې په دې برخه کې به خپلې هیڅ ډول هڅې و نه سپموي. کونړ ولایت د سفر پرمهال ښاغلي وزیر، د څوکۍ ولسوالۍ د کچې عمومي روغتون پرانیسته تر سره کړه:

یاد روغتون چې د نږدې ۲۸میلیونه افغانیو په ارزښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شو د دې ولسوالۍ او نږدې اوسېدونکو د روغتیایي خدماتو د لاښه کیدنې او لاسرسي د زیاتوالي لپاره به خورا ګټور ثابت شي.

د پرانیستې په مراسمو کې چې د کونړ ولایت مرستیال والي الحاج عبدالله حقاني، د علماوو شورۍ رئیس شیخ عبدالقهار صدیقي، د عامې روغتیا رئیس قاري مظفر خان مخلص، د کنړ ولایت امنیه قومندان، ولسي مخورو، سیمه ییزو مسؤولینو او علماء کرامو شتون درلود د ویناوو پر مهال یې د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ مننه وکړه چې د ولسونو ستونزو د حل لپاره بنیادي اقدام کوي او په وینا یې د دې تعمیر په جوړېدو سره به تر ډېره ستونزې حل شي. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي کنړ ته د خپل سفر په ورستیو کې د ولایتي روغتون له روغتیایي خدماتو څخه لیدنه ترسره کړه. په دغه لیدنه کې د عامې روغتیا ښاغلي وزیر ښاغلي مولوي نورجلال جلالي د یاد روغتون مختلفو برخو څخه له نږدې لیدنه وکړه او همدارنګه په یاد روغتون کې یې د بستر ناروغانو احوال واخیست. د عامې روغتیا وزیر وویل:((هڅه یې د نوي ولایتي روغتون ژر تر ژره فعالول دي، تر څو روغتیایي خدمات معیاري شي.))

همدارنګه، ښاغلي وزیر په یاد روغتون کې د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدماتو څخه مننه وکړه او اړوند مسئولینو ته یې د لا غوره خدماتو په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

## شکر ناروغي (Diabetes Mellitus)

ډاکټر عزت الله ژمن

شکر یا Diabetes Mellitus (DM) یوه اوږدمهاله (مزمنه) ناروغي ده چې د وینې د ګلوکوز کچه لوړېږي. دا د انسولین د کمښت، د انسولین پر وړاندې د بدن د مقاومت، یا د دواړو له امله منځته راځي. دا ناروغي د نړۍ په کچه یو له مهمو عامه روغتیایي ستونزو څخه ده.

(WHO, 2023)

### د شکر ډولونه:

#### لومړی ډول (Type 1 DM):

ډېری وخت په ماشومانو او ځوانانو کې منځ ته راځي.

د بدن دفاعي سیستم د پانقراس انسولین جوړونکې حجرې (Beta-cells) له منځه وړي.

ناروغ تل د انسولین انجکشن ته اړتیا لري

(ADA Standards of Care, 2024)

#### دوهم ډول (Type 2 DM):

د ټولو شکر ناروغانو نږدې ۹۰-۹۵٪ جوړوي.

د انسولین مقاومت او د انسولین نسبي کمښت لامل کېږي.

د چاغښت، ناسم ژوند او جنیټیکي فکتورونو سره تړاو لري.

(IDF Diabetes Atlas, 2023)

#### د امیندوارۍ شکر: (Gestational DM)

د حمل پر مهال منځ ته راځي.

د مور او ماشوم روغتیا ته جدي خطر لري. (WHO, 2022)

### نښې او علایم:

ډېره تنده (Polydipsia)، ډېر ادرار (Polyuria)، ډېره لوږه (Polyphagia) د وزن کمېدل، ستړیا او کمزوري، د لید خرابېدل د زخمونو ورو جوړېدل.

(ADA, 2024)

### اختلاطات:

#### لنډمهاله:

Diabetic ketoacidosis (DKA) په Type 1 کې زیات لیدل کېږي

Hyperosmolar hyperglycemic state (HHS) په Type 2 کې زیات لیدل کېږي.

Hypoglycemia د درملو یا انسولین له امله.

#### اوږدمهاله:

د سترګو ناروغۍ (Diabetic Retinopathy)

د پښتورګو ناروغۍ (Diabetic Nephropathy)

د اعصابو ناروغۍ (Diabetic Neuropathy)

د زړه او رګونو ناروغۍ (Coronary artery disease, Stroke)

(WHO & ADA, 2023-24)

### د تشخیص معیارونه:

Fasting Plasma Glucose (FPG): ≥ 126 mg/dl (7.0 mmol/L)

Random Plasma Glucose: ≥ 200 mg/dl (11.1 mmol/L) +

HbA1c: ≥ 6.5%

Oral Glucose Tolerance Test (OGTT): ≥ 200 mg/dl

(11.1 mmol/L) وروسته له ۲ ساعتونو څخه.

(ADA Standards of Care, 2024)

### د درملنې لارې:

#### د ژوند د طرز بدلون:

متوازن خواړه (کم شکر، کم غوړ، ډېر سبزیجات او فایبر)

فزیکي فعالیت (ورزش لږ تر لږه ۱۵۰ دقیقې په اوونۍ کې)

د وزن کنټرول.

(WHO Healthy Lifestyle Recommendations, 2023)

#### درملنه:

Type 1 (DM) یوازې انسولین :

Type 2 (DM) لومړی: Metformin که contraindication نه وي وروسته نور درمل لکه DPP-4 inhibitors, SGLT2 inhibitors Sulfonylureas، او انسولین که اړتیا وي.

(ADA & EASD Consensus Report, 2023)

### د مخنیوي لارې:

د سالم ژوند تګلاره، د وزن کنټرول، د ورزش دوام، متوازن او سالم خواړه، د لوړ خطر لرونکو (د کورنۍ سابقه، چاغښت لرونکي، د حمل پر مهال د شکر سابقه لرونکي) لپاره وخت پر وخت سکرینینګ. (WHO, IDF 2023)

### ریفرنسونه:

1. World Health Organization (WHO). Diabetes Fact Sheet. Updated 2023.
2. American Diabetes Association (ADA). Standards of Medical Care in Diabetes—2024. Diabetes Care.
3. International Diabetes Federation (IDF). IDF Diabetes Atlas, 10th edition 2023.
4. ADA & EASD Consensus Report. Management of Hyperglycemia in Type 2 Diabetes. 2023.



## خبرونه او راپورنه

د افغانستان ا.ا. د عامې روغتیا وزارت له لوري لومړي ځل لپاره په هېواد کې د سرطاني ناروغیو د تشخیص او درملنې یو ملي روغتون پرانیسته ترسره او په خدماتو یې پیل وکړ:

په همدې موخه جوړې شوې غونډه کې د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نورجلال جلالي، د یاد وزارت مرستیالانو او مرکزي رئیسانو، د بېلا بېلو امارتي ادارو استازو، په افغانستان کې د ایران اسلامي جمهوري دولت سفیر ښاغلي علي رضا بېکدلي، د نړیوالو همکارو ادارو او رسنیو استازو ګډون کړی و. د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي وویل: (له نېکه مرغه موږ دا روغتون د ګډو هڅو په پایله کې پرانیزو او هیله مند یو، چې دا روغتون به د سرطاني ناروغانو لپاره د درملنې او امید یوه سرچینه وي. هغه زیاته کړه، ډېر ژر به دې روغتون کې د داخلي متخصصینو روزنې په موخه روزنیز تخصصي پروګرامونه پیل شي او د اسانتیاوو او غوره امکاناتو برابرولو لپاره اړین اصلاحات تر کار لاندې نیول شوي دي. ښاغلي وزیر همداراز زیاته کړه، چې د هند له هېواد سره په همکارۍ به دې روغتون کې د راډیوتراپي خدمات هم برابر شي او تر اوسه هند هېواد د سرطاني ناروغیو درملنې برخه کې د یو میلیون ډالرو، چې لس ټنه درمل او طبي تجهیزات په کې شامل دي، مرسته کړې ده.
ښاغلي وزیر له خلکو، په ځانګړې توګه له پانګهوالو او خیریه بنسټونو څخه وغوښتل، چې د سرطاني ناروغانو د درملنې او ملاتړ برخه کې همکاري وکړي.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني وویل:( عامې روغتیا وزارت په تېرو څلورو کلونو کې د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا په برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړي دي، چې له دې یې د ماشومانو د زړه جراحي عملیات او د سرطاني ناروغیو درملنې ملي روغتون پرانیستل یادولای شو.

بل لور ته، د اروپایي ټولنې، روغتیا نړیوال سازمان او نورو استازو په یاده غونډه کې د خپلو هر اړخیزو وینااوو سربېره د سرطاني ناروغیو د تشخیص او درملنې برخه کې د دوامدارې همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

ادامه:

سنګین او کجکي ولسوالیو کې د "۳٦" میلیونه افغانیو په لګښت د مور او ماشوم د روغتیا "٦" روغتیایي ځالې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د هلمند عامې روغتیا رئیس، مولوي فضلي احمد شفیع الله او مل پلاوي له لوري د یاد ولایت په سنګین او کجکي ولسوالیو کې د "۳٦" میلیونه افغانیو په لګښت د مور او ماشوم د روغتیا "٦" روغتیایي ځالې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې، چې د مور او ماشوم روغتیا برخه کې به لازم روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

د هلمند عامې روغتیا رئیس، د یادو روغتیایي ځالو پرانیستې پر مهال وویل، دغه روغتیایي ځالې په معیاري ډول جوړ شوي دي، چې د مور او ماشوم روغتیا برخه کې به غوره او معیاري روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

د بې کیفیته درملو او خوراکي توکو د مخنیوي کنفرانس!

د ا.ا.ا. عامې روغتیا وزارت رهبرۍ د یو خبري کنفرانس پرمهال د دې وزارت د خوړو او درملو معینیت له لوري د یو شمېر مرسته کوونکو نړیوالو مؤسسو چې هېواد ته یې په زیاته کچه له نېټې تېر او بې کیفیته درمل او خوراکي توکي وارد کړي وو د نیول کېدو خبرداری ورکړ.

په همدې موخه جوړ شوی خبري کنفرانس چې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې ترسره شو، په کې د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د وزارت مرکزي رئیسانو د رسنیو استازو او نورو مسئولینو ګډون کړی و. عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په یاد کنفرانس کې وویل: دا چې عامې روغتیا وزارت د خوراکي توکو د خوندیتوب او کیفیت د کنټرول مسؤلیت په غاړه لري او هڅه کوي چې د هغه خوراکي توکو چې حرام، بې کفیته او غیر خوندي وي او د ناروغیو ذریعه ګرځي مخنیوی ترسره کوي.

ښاغلي وزیر زیاته کړه) د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) نږدې اووه زره ټنه بې کیفیته مواد چې په کې سوپر سیریل د پریمیکس (Premix) په نوم مواد افغانستان ته راوړل شوي عامې روغتیا وزارت له لوري یې مخنیوی شوی او هم د یو این ډي پي (UNDP) د توبرکلوز د ۱۵۰ ایکسپایر تشخیصیه کیټونو د وېش مخه نیول شوې ده.

عامې روغتیا وزیر ، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي یو ځل بیا د عامې وزارت له لوري په شفافه توګه د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو ژمنه تازه کړه او د دې معلوماتو شریکولو موخه یې هغه هیوادونه چې د افغانانو په نوم د مؤسساتو یا هم د نړیوالو سازمانو له طریقه مرسته کوي د مرستو سالم مدیریت، او اغیزمنتیا ته زیاته پاملرنه یاده کړه.

په یاد خبري کنفرانس کې دغه راز د عامې روغتیا وزارت رهبرۍ ترسره کړي یو کلن فعالیتونه او لاسته راوړنې هم له رسنیو سره شریکې کړې چې په کې د داخلي محصولاتو د کیفیت ارزول، نظارتونه او نور شامل و.

د عامې روغتیا وزارت له لوري جوزجان ولایتي روغتون کې د بېړنیو روغتیایي خدمتونو څانګه جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه:

یاده څانګه چې د اسلامي امارت له پراختیایي بودجې څخه د ۲۷ میلیونه افغانیو په لګښت جوړه شوې، پرانیست مراسمو کې یې د جوزجان والي قاري ګل حیدر شفق، د عامې روغتیا رئیس قاري ذبیح الله حسیني، قومي مشرانو، علماوو کرامو او یو شمېر نورو مسؤلینو شتون درلود.

د جوزجان والي، قاري ګل حیدر شفق وویل، اسلامي امارت په ځانګړې توګه د عامې روغتیا وزارت د خپل دردېدلي ولس لپاره د غوره روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو په موخه د جوزجان ولایتي روغتون کې د ۲۷ میلیونه افغانیو په لګښت د بېړنیو روغتیایي خدمتونو څانګه جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه، چې ورسره به یاد ولایت کې د عاجلو ناروغانو روغتیایي ستونزو ته رسېدنه کېږي.

همداراز د جوزجان عامې روغتیا رئیس، د یادې څانګې په پرانیستې خوښي څرګنده او دا یې د دغه ولایت اوسېدونکو لپاره د روغتیا په برخه کې یوه ستره لاسته راوړنه وبلله چې ورسره به د ډېرې ناروغانو ستونزې حل شي.

ادامه:

د عامې روغتیا وزارت له لوري د تلسیمیا ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې او عامه پوهاوي غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو، د همکارو ادارو استازو، روغتیا پالانو او د رسنیو استازو ګډون کړی و. د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د تلسیمیا ناروغانو د درملنې برخه کې ژمنتیا، عامه پوهاوی او په دې ناروغۍ اخته کسانو ته د روغتیایي اسانتیاوو رامنځته کول د دې غونډې موخه وبلله او ویې ویل، د اسلامي امارت واکمنېدو سره دې برخې ته پاملرنه زیاته شوې او په همدې موخه د هېواد په زونونو کې د وینې بانکونه فعال شوي، په ولایتي روغتونونو کې اسانتیاوې برابرې شوي، د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره شوي او روغتیایي کارکوونکو ته روزنیز سیمنارونه ورکړل شوي دي.

ښاغلي مرستیال زیاته کړه، په تېر یو کال کې تلسیمیا ناروغانو ته (۱۲۹۵۰) بستې وینه توزیع شوې او د عامې روغتیا وزارت هڅه کوي د نورو برخو ترڅنګ تلسیمیا برخې ته هم ځانګړې پاملرنه وکړي او په دې ناروغۍ اخته کسانو ته معیاري روغتیایي خدمات او اسانتیاوې برابرې کړي. دغه راز د عامې روغتیا وزارت د معالجوي طب لوی رئیس، ډاکټر وحدت الکوزي د تلسیمیا ناروغۍ پر وړاندې مبارزه د ټولو مسؤلیت وباله او ویې ویل، اوسمهال د هېواد په زونونو او ولایتونو کې د وینې فعال بانکونه شتون لري او روغتیا وزارت په پلان کې لري، چې په راتلونکي کې د اندراګاندي (صحت طفل) روغتون کې د تلسیمیا ناروغۍ درملنې عصري او مجهز مرکز پرانیزي؛ .ترڅو په دې ناروغۍ د اخته کسانو معیاري درملنه وشي

په دې غونډه کې همدارنګه، د وینې مرکزي بانک آمر، ډاکټر سیف الرحمن پښتون، د سرطان ملي برنامې په استازیتوب ډاکټر خالد خالد او د پوهنتون استاد ډاکټر امیر خان پامیر د تلسیمیا ناروغۍ د مخنیوي، درملنې او عامه پوهاوي په اړه هر اړخیزې ویناوې وکړې.

د I.I.I د عامې روغتیا وزارت له لوري د درملو صنعت کارانو لپاره د ښو تولیدي کړنو (GMP) تصدیق پاڼو د وېش غونډه ترسره شوه:

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د I.I.I د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ښاغلي الحاج ملا عبدالغني برادر، اداري مرستیال ښاغلي الحاج مولوي عبدالسلام حنفي، د کابینې غړو، د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د وزارت مرستیالانو، مرکزي او ولایتي رئیسانو، د درملو تولیدي شرکتونو مسؤلینو او د خصوصي سکټور او رسنیو استازو ګډون کړی و.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال، ښاغلي الحاج ملا عبدالغني برادر د درملو برخه کې د تولیدي شرکتونو د ښو کړنو هرکلی وکړ او ویې ویل، چې د ملي او نړیوالو اصولو سره سم دې د درملو تولید ته زیاته پاملرنه وشي؛ ترڅو په دې برخه کې لا زیات پرمختګ وکړو.

ښاغلي برادر همداراز، په ملي او نړیوالو پانګه والو غږ وکړ، چې روغتیا برخه کې پانګونه وکړي او د دې برخې څخه په ملاتړ د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې خپل مسؤلیت اداء کړي.

دغه راز د ریاست الوزراء اداري مرستیال، الحاج مولوي عبدالسلام حنفي وویل، هېواد ته دې د بې کیفیته درملو او خوراکي توکو له واردولو څخه په کلکه ډډه وشي او هر څوک، چې هېواد کې بې کیفیته درمل او خوراکي توکي تولیدوي او یا یې له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته واردوي له قانوني چلند سره به مخ شي.

همداراز، د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په لومړي ځل د درملو تولید برخه کې د داخلي تصدیق ترلاسه کول د GMP شرکتونو دغه نوښت، یعنې د روغتیا سکټور کې ستر او هیله بخښونکی ګام وباله او ویې ویل: په دې سره به روغتیا برخه کې داخلي تولید زیات، اقتصادي برخه به پیاوړې او روغتیا سکټور به په تدریجې ډول د ځان بسیاینې لور ته ولاړ شي.

په دې غونډه کې همدارنګه، د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد

ادامه:

د (GMP) معیار تطبیق د اسلامي امارت د سالمو پالیسیو پایله وبلله او ویې ویل، اسلامي امارت په ځانګړې توګه د عامې روغتیا وزارت ژمن دی، چې په کور دننه تولیدات زیات او دا برخه لا پیاوړې کړي؛ ترڅو په راتلونکي کې پر ځان بسیا روغتیایي سکټور ولرو.

دا چې د درملو او زرقي محلولاتو دغو دریو شرکتونو سنو فارما، ملي شفاء او (TJL) د ښو تولیدي کړنو GMP معیارونه بشپړ کړي وو، په همدې اساس ورته د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت له لوري د ریاست الوزراء د ښاغلو مرستیالانو او عامې روغتیا وزیر، پر لاسونو د GMP تصدیق پاڼې وویشل شوې.

## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزارت له لوري د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون معرفت غونډه ترسره شوه:

په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس، ښاغلي شیخ الحدیث نور الحق انور، د کابینې غړو، د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي، د وزارت مرستیالانو، عمومي رئیسانو، د بېلابېلو وزارتونو، ادارو او د لایف پرل (Life Pearl) د درملو تولیدي شرکت مسؤلینو او د رسنیو استازو ګډون کړی و.

د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس، ښاغلي شیخ الحدیث نور الحق انور یاد قانون د مرضونو مخنیوي او شفافیت رامنځته کېدو برخه کې مهم وباله او د درملو واردونکو او تولیدونکو ته یې سپارښتنه وکړه، چې کیفیت او معیار ته پاملرنه وکړي، هغه ټینګار وکړ، چې د بې کیفیته درملو واردونکو او تولیدونکو سره هېڅ ډول ترحم په کار نه دی او باید سخته سزا ورکړل شي.

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي یاد قانون د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق مخنیوي برخه کې مهم وباله او پر ښه تطبیق یې ټینګار وکړ. ښاغلي وزیر زیاته کړه، د دغه قانون په ښه تطبیق سره به د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو په کیفیت کې د پام وړ ښه والی راشي، نرخونو به کنټرول او په تولنه کې به د ناروغیو د کمښت او اقتصادي پیاوړتیا سبب وګرځي. دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د یاد قانون د اهمیت او ارزښت په اړه هر اړخیزه وینا وکړه او د باکیفیته درملو پر واردولو او تولیدولو یې ټینګار وکړ.

نوموړي همداراز، یاد قانون د ا.ا.ا یوه ستره لاسته راوړنه وبلله، چې د فساد په مخنیوي او شفافیت رامنځته کولو کې به ځانګړی رول ادا او د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو معیارات به خوندي کړي.

په یاده غونډه کې د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون تشریح او د (GMP) معیار د اهمیت او ارزښت په اړه د هر اړخېزو معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ لایف پرل د درملو تولیدي شرکت مسؤلینو ته د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رئیس او د عامې روغتیا وزیر په لاسونو د (GMP) تصدیق پاڼه ورکړل شوه.

## د عامې روغتیا وزارت له لوري د شمالي سالنګ ټروما سنټر (بیړني روغتیایي مرکز) د ترمیم او بیا رغونې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو:

د یاد روغتیایي مرکز پرانیست مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د وقایوي طب لوی رئیس ډاکټر حیدر خان حیدر، د ولایتونو د همغږۍ سرپرست رئیس ډاکټر عبدالولي علیزي، د بغلان مرستیال والي ملا محمد همایون جهادیار، د بغلان د عامې روغتیا رئیس مولوي محمد حسن عاصم، روغتیایي کارکوونکو، د سیمې اوسېدونکو او یو شمېر نورو مسؤلینو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت د وقایوي طب لوی رئیس، ډاکټر حیدر خان حیدر د یاد روغتیایي مرکز په پرانیستې خوښي څرګنده او ویې ویل: (عامې روغتیا وزارت هڅه کوي چې د هېواد په ټولو لویو لارو کې ورته روغتیایي مرکزونه جوړ کړي؛ ترڅو په لویو لارو کې د ترافیکي پېښو ټپیانو ته بیړنۍ رسېدنه تر سره او اړین روغتیایي خدمتونه ورته وړاندې شي.

ادامه:

دغه راز، د بغلان د عامې روغتيا رئيس، مولوي محمد حسن عاصم وويل: (د دې روغتيايي مرکز په پرانيستلو سره به د ترافيکي پېښو ټپيانو او نورو بېړنيو ناروغانو ته عاجل او اړين روغتيايي خدمات وړاندې کېږي). د يادونې وړ ده چې د دغه روغتيايي مرکز د ترميم او بيا رغونې چارې د عامې روغتيا وزارت له بودجې څخه تر سره شوي دي.

د عامې روغتيا وزارت د پوهاند غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ د طبي ټکنالوژۍ څانګې څخه ۲۰ تنه زده کړيالان فارغ شول:

په همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د پوهان غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ رئيس دوکتور محمد قاسم عادل، د بېلابېلو څانګو مسؤلينو او استادانو ګډون کړی و. د پوهاند غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ رئيس، دوکتور محمد قاسم عادل فارغانو ته د فراغت مبارکي ورکړه او له هغوی څخه يې وغوښتل، چې خپلې دندې په اخلاص، امانتدارۍ او د مسؤليت له احساس سره سمې ترسره او هم دې د طبابت اخلاق په عمل کې پلي کړي. همدارنګه، د انستيټيوټ علمي مرستيال ډاکټر عبدالستار جبارزي فارغانو ته د فراغت مبارکۍ ترڅنګ د هغوی د کورنيو، استادانو او عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ څخه وستايلې او ويې ويل: «هيله لرم چې بريالي شئ او د متعهدو کسانو په توګه د ټولنې لپاره د خدمت وړ وګرځئ. د يادونې وړ ده، چې د پوهاند غضنفر روغتيايي علومو انستيټيوټ د مرکز سر بېره په ۱۶ ولايتونو کې هم څانګې لري، چې په دولسو بېلابېلو روغتيايي برخو کې وړ او مسلکي کسان روزي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کوي.

د عامې روغتيا وزارت له لوري د حادې خوارځواکۍ ملي لارښود او د دې ناروغۍ د مديريت تطبيقي پلان پرانيست غونډه ترسره شوه:

په دې غونډه کې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، د وزارت مرکزي رئيسانو، د روغتيا نړيوال سازمان، خوړو نړيوال پروګرام (WFP)، يونيسيف ادارې او رسنيو استازو ګډون کړی. و د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني ويل: (خوارځواکي د ماشومانو د ژوند، ذهني ودې او راتلونکې لپاره يو جدي ګواښ دی او اغېزې يې له کورنۍ څخه تر ټولنې پورې غځېږي. هغه زياته کړه، د عامې روغتيا وزارت ژمن دی، چې دا لارښود د هېواد تر لرې پرتو سيمو پورې عملي کړي او د روغتيايي کارکوونکو په ظرفيت لوړولو سره د ټولنې د پوهاوي کچه لوړه او له ملي او نړيوالو بنسټونو سره په ګډه د ميندو او ماشومانو د روغتيا برخه پياوړې کړي همداراز، د عامې روغتيا وزارت د عامه تغذيې رئيس، ډاکټر حکمت‌الله معصومي وويل:د دې لارښود جوړولو اساسي موخه له نړيوالو معيارونو او د هېواد له واقعي شرايطو سره سم په شواهدو ولاړ د يو ملي علمي لارښود لرل دي، چې د روغتيايي کارکوونکو لپاره روښانه ساده او د .پلي کېدو وړ وي. بل لور، د روغتيا نړيوال سازمان، خوړو نړيوال پروګرام او يونيسيف استازو هر اړخيزې ويناوې وکړې او د حادې خوارځواکۍ د مخنيوي او مديريت په برخه کې يې د هر اړخيزې همکارۍ ډاډ ورکړ.

د هېواد د درملتونونو د بيا ثبت پروژې لپاره ۶۰ تنو سروې کوونکو او ټيم مشرانو ته يو ورځنۍ روزنيز پروګرام ترسره شو:

دغه روزنيز پروګرام د (لوګر، کندهار، زابل، ارزګان، هلمند، ننګرهار، لغمان، کونړ او نيمروز) ولايتونو سروې کوونکو او ټيم مشرانو لپاره په خوړو او درملو معينيت کې ترسره شو. په دې پروګرام کې د هېواد د درملتونونو د سروې او بيا ثبت پروژې پېژندنه او د دې پروژې تخنيکي سيستم د خوړو او درملو معينيت د متخصصينو له لوري ګډونوالو ته وړاندې شو؛ ترڅو دوی وکولای شي د پروژې د تطبيق پرمهال يې په سمه توګه پلي کړي. د يادونې وړ ده، چې د يادې پروژې د تطبيق پايله کې به د هېواد ټول درملتونونه سروې شي او جواز لرونکي درملتونونه به په الکترونيکي ډول بيا ثبت شي.




## د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د قاچاق د مخنیوي قانون د انفاذ په هکله د عالیقد امیر المؤمنین حفظ الله تعالی فرمان

شپږمه ماده:

۱۶ـ ((د درملو د علمي نوم او په کمپیوټري ډول د نسخو په لیکلو سره له ناوړې استفادې څخه مخنیوی کول)).

دا ماده د روغتیایي سیستم د اصلاح، شفافیت او د ناروغانو د خوندیتوب لپاره یو مهم ګام بلل کېږي.

په دودیز ډول، ډېری ډاکټران نسخې د درملو د تجارتي (برانډ) نومونو پر بنسټ لیکي، دا چاره د دې لامل ګرځي چې درملتونونه د خپلو اقتصادي ګټو لپاره ځانګړي او ګران بیه درمل ناروغانو ته ورکړي، حال دا چې د هماغو درملو ارزانه او مؤثر بدیلونه (جنریک درمل) هم موجود وي.

له بلې خوا، د نسخو کمپیوټري کول د روغتیایي خدمتونو په معیاري کولو کې مهم رول لري، په لاس لیکل شوې نسخې ډېری وخت د لوستلو ستونزې لري، چې له امله یې د درملتونونو کارکوونکي د درملو په تشخیص کې تېروتنه کولای شي، چې دا چاره کله ناکله د ناروغ روغتیا ته جدي زیان اړوي، خو کمپیوټري نسخې واضح، دقیقې او له تېروتنو څخه خوندي وي.

دغه ماده همدارنګه د درملو د قاچاق او غیر قانوني کارونې پر وړاندې هم اغېزمنه ده، کله چې نسخې په معیاري او ډیجیټلي ډول ثبت شي، نو د درملو د توزیع او مصرف بهیر تعقیب کېدای شي، دا کار د غیر قانوني درملو د بازار د محدودولو او د کیفیت د کنټرول سبب ګرځي.

دا چاره د ډاکټرانو لپاره مرسته کوي چې دقیق او خوندي درملنه ترسره کړي.

د درملو د علمي نوم کارول او د نسخو کمپیوټري کول د ناوړه استفادې مخه نیسي، او ورسره د روغتیایي سیستم شفافیت ښه کوي، د ناروغانو لګښتونه راکموي او د درملنې کیفیت ته ګټه رسوي.



# د ځمکې پر مخ د الله تعالی غښتلی لښکر

ژباړه: حمدالله حلميار

له حضرت علي کرم الله وجهه څخه وپوښتل شول چې: الله جل جلاله پر ځمکه تر ټولو غښتلی څه شی پيدا کړی؟

حضرت علي کرم الله وجه په ځواب کې ورته وويل: ما چې فکر وکړ، ما ويل (اوسپنه) ډېر غښتلی څيز دی؛ خو چې ومې ليدل اور همدغه اوسپنه ويلي کوي، نو ومې ويل: (اور) غښتلی دی! بيا مې چې اوبو ته فکر وکړ، چې اور اوبه وژلی شي، نو ومې ويل: الله جل جلاله (اوبه) غښتلې پيدا کړې! بيا مې وريځو ته فکر وکړ، ما ويل وريځ ده چې اوبه انتقالوي او اوُروي نو ومې ويل (وريځې) ته الله ډېر قوت ورکړی...خو کله مې چې وکتل، بادونه همدا وريځ پر سر ګرځوي، نو ومې ويل (هوا) د الله تعالی غښتلی مخلوق ده... بيا مې غرونو ته وکتل چې همدا هوا ورڅخه راوزي، نو ما وويل چې بس (غرونه) پر ځمکه ډېر قوت والا دي... بيا مې چی انسانانو ته فکر شو، چې پر همدغو غرونو پاس خيژي... نو ما وويل: (انسان) د الله ج تر ټولو غښتلی څوک دی... بيا مې د انسان خوب ته فکر شو چې په اسانۍ سره پر انسان برلاسی کېږي... ومې ويل (خوب) ته الله تعالی قوت ورکړی... او چې ومې ليدل غم او خواشيني خوب هم له منځه وړي، نو ومې ويل: (غم) زورور څيز دی... بيا چې مي فکر وکړ غم د انسان په زړه کې اوسي او زړه يې ګالي... نو ومې ويل (زړه) دی چې الله جل جلاله قوي پيدا کړی.. او بالاخره دې پايلې ته ورسېدم چې، له زړه څخه چې غم او خواشيني لېرې کوي او زړه ته اطمينان ورکوي هغه د الله جل جلاله ذکر دی نو ومې ويل: پر ځمکه د الله تعالی غښتلی لښکر د الله جل جلاله ذکر دی.

(ألا بذکر الله تطمئن القلوب)

## د وینې ورکړې اهمیت او روغتیایي ګټې

ډاکټر نیازګل (نیازمند)

وینه د انسان د ژوند له اساسي اړتیاوو څخه ده او تر اوسه یې بشپړ مصنوعي بدیل نه دی موندل شوی. هره ورځ زرګونه ناروغان د جراحي عملیاتونو، ټرافیکي پېښو، د زیږون پر مهال د وینې ضایع کېدو، سرطان، تلیسیمیا او هیموفیلیا له امله وینې ته اړتیا لري، له همدې امله خوندي او کافي وینه د هر روغتیایي نظام مهمه برخه ګڼل کېږي وینه له سرو کروياتو، سپینو کروياتو، پلیټلیټونو او پلازما څخه جوړه ده چې هره برخه ځانګړې دنده لري. د وینې یوه واحده اندازه کولای شي د څو ناروغانو ژوند وژغوري ځکه د وینې اجزا جلا جلا کارول کېږي.

خوندي وینه باید د طبي معیارونو مطابق راټوله، معاینه او ذخیره شي، تر څو د HIV، هیپاټایټس او نورو انتاني ناروغیو د انتقال مخه ونیول شي، د روغتیا نړیوال سازمان سپارښتنه کوي چې هېوادونه باید د رضاکارانه وینې ورکړې سیستم پیاوړی کړي، ځکه رضاکاره وینه تر ټولو خوندي سرچینه ده. هغه کسان چې عمر یې د ۱۸ او ۶۵ کلونو ترمنځ وي، مناسب وزن او ښه روغتیا ولري، کولای شي وینه ورکړي، د وینې ورکړه یوه ساده او خوندي پروسه ده چې شاوخوا ۱۰ تر ۱۵ دقیقو وخت نیسي، وینه ورکول د وینې دوران منظموي، د اضافي اوسپنې د زیاتوالي مخه نیسي او انسان ته د رضایت احساس ورکوي. په هېواد کې د ټرافیکي پېښو او ارثي ناروغیو له امله د وینې اړتیا زیاته ده، خو لا هم د رضاکارنه وینې راټولولو ته اړتیا لیدل کېږي، د عامه پوهاوي لوړول، د وینې بانکونو پیاوړتیا او د ځوانانو هڅونه د دې ستونزې د حل مهمې لارې دي. اسلام مبارک دین د انسان ژوند ژغورلو ته زیات ارزښت ورکړی دی.

الله تعالی فرمايي:

ژباړه: (چا چې د یو انسان ژوند وژغوره، داسې ده لکه د ټولو انسانانو ژوند یې ژغورلی وي.)

(سورة المائدة: ۳۲)

نو ځکه ناروغ ته وینه ورکول یو ستر انساني، اخلاقي او اسلامي مسئولیت ګڼل کېږي.

"وینه ورکړئ، ژوند وژغورئ"



## کبد چرب حاد حاملگی

دوکتورس زرغونه ( رضا )

ترینر متخصص نسایی ولادی

این حادثه عبارت است از (Acute hepatic failure) درصورتیکه (viral hepatitis gintra hepatic cholestasis) رد شده است شایعترین علت عدم کفایه حاد کبد در دوران حاملگی کبد چرب حاد است که این اختلال تغیر شکل حاد یا اتروفی زرد حاد نیز خوانده می‌شود که بیماری با نفوذ قطرات کوچک چربی در حجرات کبدی مشخص می‌شود واقعات ان درترایمسترسوم و بعضاً بعداز ولادت واقع می‌شود که وقوعات آن درهر ۷۰۰۰-۱۵۰۰۰ خانم حامله یک واقعه دیده شده و زیادتر در خانم های ذیل دیده می‌شود:

<- خانم های اول باری

<- پری اکلمپسیا

<- حمل چند گانگی

<-موجودیت جنین مذکر

Etiology یا اسباب:

عامل این مرض طوری می‌باشد که مایتوکاندریا حجرات به عدم کفایه مصاب می‌گردد وسبب برهم خوردن Fatty Acid Oxidation می‌شود ومایتوکاندریا به خاطری به عدم کفایه مصاب می‌شود که در ترایمستر سوم حاملگی سویه هورمون استروجن بلند می‌شود.

اعراض و علایم کلنیکی:

کبد چرب حاد تقریباً همیشه در اواخر حاملگی بروز می نماید از لخاظ شدت کبد چرب حاد دارای یک منظره کلنیکی است که در شدیدترین موارد علایم عموماً در ظرف چند روز پدیدار می‌شود. تقریباً در تمام موارد شدید فعال شدن حجرات اندوتلیال و نشست عروق شعریه باعث غلیظ شدن خون؛ عدم کفایه حاد کلیوی و گاهی سبب ازیما ریوی می‌شود باغلیظ شدن خون جریان خون رحمی و پلاسنتایی کاهش میابد که در ترکیب با اسیدوز مادر می‌تواند حتی قبل از مراجعه بیمار جهت تداوی سبب مرگ جنین شود

علایم اصلی شامل ذیل است:

<- استفراغ

<- درد بطنی

<- زیاد نوشیدن و زیاد ادرار کردن

<- هایپوگلایسیمیا یا پاین بودن شکر در خون

<- بلند بودن اندازه یوریا

<- لیکوسایتوزس

<- پروتین یوریا

<- زردی پیشرونده

<- درمعاینه التراسوند موجودیت (Bright Liver) و (Ascitis)

<- Elevated Transaminase and ALT ,AST یاتر ۴۲ iu/l

<- بلند بودن سویه امونی

<- عدم کفایه کلیه

<- اختلالات انعقادی

<- دربایوپسی کبد نفوذ ذغابات کوچک چربی در حجرات کبدی درجات متغیری از اختلال وظایف متوسط تا شدید کبدی نیز وجود دارد که برهم خوردن وظایف کبدی خود را به صورت هیپوالبومینمیا؛ هیپوکلسترولمیا و طولانی شدن زمان انعقاد نشان میدهد بروز اختلالات انعقادی نیز متغیر است خصوصاً در مواردی که ولادت از طریق عمل جراحی انجام شود می‌تواند تهدید کننده حیات باشد کواگلوپتی ناشی از کاهش تغیر فکتورهای انعقادی در کبد است.

اگراز کریترا فوق (٦) کریترا موجود باشد گفته میشود که مریض مصاب به (Acute fatty Liver of Pregnancy) است.

منظره کلنیکی و تشخیص:

<- بی اشتهایی

<- دلبدی

<- استفراغ

<- سردردی

<- خستگی

<- تشوشات دماغی

-> زردی 90 %

-> درد ناحیه کبدی

-> تشوشات جلدی

-> Hepatic Encephalopathy

-> Conjugated Hyperbilirubinemia (۵-۱۵ mg) ویا بلند تر از آن.

-> بلند بودن انزایم های کبدی

-> بلندبودن BUN and Creatinine

درالتراسوند (CT,MRI) موجودیت ارتشاحات چربی یا (Fatty Infiltration) وبهترین وسیله تشخیصه بایوپسی کبد است کلید کسب پیامدهای موفقیت آمیز ارایه مراقبت های حمایتی شدید و تداوی مادری مناسب است.

تداوی اساسی این مریضان خاتمه دادن به حمل است در بعضی موارد ممکن است جنین پیش از تشخیص مرده باشد در این صورت تصمیم گیری در مورد روش ولادت کمتر مشکل ساز است به تعویق انداختن ولادت برای مدت طولانی می تواند خطراتی را برای مادر و جنین همراه داشته باشد باید برای انجام ولادت تلاش نموده و جنین راهم تحت نظارت دقیق قرار دهیم برخی توصیه می‌کنند که به منظور تسریع بهبود وظایف کبدی از ولادت سیزارین استفاده شود اما در کواگلوپتی های شدید ولادت سیزارین میتواند برای مادر خطرناک باشد.

-> تطبیق پلازما تازه منجمد شده (FFP)

->تطبیق پلاتیلیت

-> تطبیق خون

تطبیق این سه چیزفوق بخاطرتداوی (Coagulopathy) می باشد توصیه گلوکوز بخاطر تداوی هایپوگلیسمیا ویگانه تداوی در (Fulminant Hepatic Failure) عبارت از (Liver Transplantation) یا تعویض کبد می‌باشد.

## Prognosis انزار:

مرگ مادران ۱۰-۱۵٪ بوده ومربوط به عوامل ذیل میباشد:

-> Hepatic encephalopathy

-> DIC یا تشوشات انعقادی

-> ARDS یا سندروم حاد دسترس تنفسی.

-> عدم کفایه کلیه

-> پانکراتیت حاد

-> خونریزی بعداز ولادت (PPH)

مرگ جنین ۱۵-۲۰٪ بوده که مربوط عوامل ذیل میباشد:

-> Intra Uterine fetal death مرگ جنین در داخل رحم.

-> Prematurity عدم رسیده‌گی جنین

## Reference:

1: F.Gary Cunningham & others, Williams Obstetrics ,25th edition, McGraw-Hill Medical Publishing Division, 2018.

2. Saad Rana, Obstetrics & perinatal care for developing countries, First edition, SAF publications, Islamabad-pakistan,2018

